هفته نامه

# جهاد هنداره

مراة الجهاد


PROPERTY OF ACKU

## دبدخشان ولایت دتوپخانی دسرك جوړولو کار پای ته ورسید

دمیدیا خبری اژانس دبدخشان ولایت څخه دجمعیت اسلامی دمنابعو په حواله رپوټ ورکړی چی دبدخشان ولایت دپاکستان سره دسرحدی پولی دنوی سرك کار چی یو کال مخکی پیل شوی وه دبدخشان دبهارك ولسوالی پوری د۱۱۰ کیلو مترو اوږد سرك دجوړولو نه پس دزیاتو اقتصادی او فنی ستونزو سره سره پای ته رسیدلی دی .

رپوټ زیاتوی چی دا سرك به جوړولو سره چی دچترال ،شاه سلیم اوتوپخانی کوتل دلاری بدخشان ته غزول شوی دی اودپنځه پیاده ورځو منزل دموټر دیوی ورځی سفر ته راکښته شوی اوهم دمین پاکی چاری بی دمینونو دخنثی کولو دموسسی پواسطه تر سره اودترافیکو پرمخ پرانستل شوی دی .

په رپوټ کی ویل شوی چی پواځی ددوه لویو اویوه کوچنی پل دجوړولو چاری بی ترکار لاندی دی ولی بیا هم دبدخشان بیلابیلو برخوته بی دتللو اسانتیاوی رامنځ ته کړیدی .

## په کابل اوشاوخوا کی درژیم په نظامی مرکزونو دمجاهدینو دراکټونو بریدونه

کابل ، دجدی ٦ مه :

په پیښور کی دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر دپروان له ولایت څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو په افغانستان باندی دروسانو دپوځی یرغل اومستقیم مداخلت د۱۲ می کلیزی یعنی دجدی دشپږمی دغندنی په مناسبت دکابل په هوایی ډگر ، دزرهدارو په ٤ او ١٥ قوا اودرژیم په نورو نظامی مرکزونو باندی ددرندو وسلو اوراکټونو بریدونه دجدی دڅلورمی نیټی څخه پیل کړیدی.

همدغه راز په همدی مناسبت به مجاهدین په جلال اباد ، گردیز او په نورو ښارونو کی درژیم په نظامی تاسیساتو باندی څپونکی گذارونه کړی .

دوهم کال ١٦مه (پرله پسي ٦٨مه ) گنه ، چهارشنبه د۱۳۷۰ هـ ش کال دجدي ۱۱مه ، د۱٤۱۲ هـ ق دجمادي الثاني ۲٦ مه د۱۹۹۲ میلادي کال دجنوري لومړي نیټه

## دروس دیرغل کلیزه په میرامشاه کې وغندل شوه

غونډې ته دالحاج حقاني اونورو مجاهدو اوانصارو علماوو وینا

په ۷ مخ کې

## ۱۹۹۱ سال بحران های اقتصادی وسیاسی

پیکنگ ، روزنامه پاکستان :

وسایل دولتی ارتباط عامه درچین درتحلیلی به مناسبت اختتام سال ۱۹۹۱ میلادی با اوردن مثالی از وضع فعلی روسیه به مردم چین هشدار داد اند که ازادی ودیموکراسی نتایج خطرناکی را ببار می اورند .

به اساس گذارش رادیو بی ، بی ، سی اژانس دولتی چین تحت عنوان اًین سال سالی بود که اتحاد شوروی دران جان داد" ازسیاست پارلمانی روسیه شدیدا انتقال نموده ، وگفته است که مبارزه قدرت بین گروهای مختلف سیاسی درپارلمان ، پارلمان را وقف کشمکش های داخلی نموده درطی ان تحلیل اینده اتحادیه دول مشترکه فعلی را تاریك خوانده اند همچنان دراین تحلیل مذکور سال ۱۹۹۱ را سال بحران اقتصادی وسیاسی وانموده کرده اند .

## په هندی پنجاب کی په یوه ریل گاډی دسکانو حمله

### (٦٢) هندوان مړه او (٧٠) تنه نور ټپیان شول

په ۸ مخ کي

## په اسلام اباد کې دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې:

### افغاني مجاهدینو دری نور روسی بندیان خوشی کړل

په ۸ مخ کې

## په پیښبور کی دیوی غونډی په ترڅ کی :

### دمولانا فیضانی دزندانی کیدو نولسمه کلیزه ولمانځل شوه

په ۷ مخ کي

## پراستاد سیاف باندی ناکامه قاتلانه حمله :

### ددوو قوماندانانو په گوون څلور تنه په شهادت ورسیدل

په ۷ مخ کې

## دمسکو دمعاهدی راتلونکی شکمنه ده

### یلتسین دامریکا تر فشار لاندی له خپلو وعدو منحرف ښکاری

په ۸ مخ کې

## جمهوریت یوکراین برای خود ارتش مستقل می سازد

### ارتش متحد کامنولیت تنهااز تاسیسات اتومی حفاظت خواهد کرد

درصفحه ۸

## پرهندی حکومت دمخالف گوند تور :

### په هند کی سرکال دلوږی له لاسه ۱۸۰ تنه مړه شوی

په ۸ مخ کې

## دسویډن یوه مسافر وړونکی الوتکه له منځه ولاړه

ستاك هوم ، دجدی ۷ مه :

نړیوالو خبری منابعو رپوټ ورکړی دسویډن یوه مسافر وړونکی الوتکه دستاك هوم په هوایی ډگر کی هغه وخت له منځه لاړه چی غوښتل یی دډنمارك په لور حرکت وکړی .

په خبرونو کی ویل شوی په الوتکه کی ټول ۱۲۰ تنه مسافر سواره و دکومو چی تراوسه پوری دمرگ او ژوند پوره حال نه دی معلوم .

## دروسیی یرغل ددیارلسمی کلیزی دغندنی په اړه :

### په پاکستان او ایران کی دمهاجرینو غونډی جوړی شوی

په ۹ مخ کې

## اسرائیل له روس څخه داتومي وسلي سامان اخلي

نړیوالو خبري منابعو رپوټ ورکړي چي داسرائیلو دولت به دخپلو اتومي وسلو مهم پرزه جات دروس څخه واخلي.

دامریکي دولتي مامورینو اندیښنه څرگنده کړي چي اسرائیل به دغه پرزه جات په هغو پیسوباندي اخلي کومي چي به یې نیول شوي سیموکي دیهودیانو دځاي پر ځاي کولولپاره به په راتلونکي میاشت کي ورکړل شي.

ویل شوي چي امریکا به اسرائیلو ته زرملیونه ډالره مرسته ورکوي .

دیادوني وړده چي روس دخپلي خرابي اقتصادي وضعي له امله دخپلو اتومي پرزه جاتو خرڅولو ته اړتیا لري.

## موفقیت بی نظیر جنبش اسلامی درانتخابات الجزایر

### جبهه نجات اسلامی باحاصل نمودن ١٦٧ کرسی اکثریت مطلق رابدست اورد

درصفحه ۸

## درزندان هاي هند چه مي گذرد؟

درصفحه ۳

## سرمقاله

## دروسیی امپراطوری دزوال او ړنگیدو اصلی عامل زموږ جهاد اوپاڅون

په بشری نړۍ کی دپیړیو په پوړیو کی یو پربل باندی تیری اوبلوسیدنی اودزورورو له خوا دکمزوری دحقوقو ترپښو لاندی کول په یوه اوبله بڼه نود و، دی او دالړی لا روانه ده .

که دبشری تاریخ پاڼی وگورو ندااسی ډیرو پیښو انگورېکی لیدلای شو چی څه رنگ اوله کومو لارو سترو قوتونو ( قبیلو ، قومونو ، حکومتونو اوقبیلو ) په کمزورو اوبیوزلو یرغل کړی اودهغوی مادی او معنوی حقوق یی سلب کړی دی داسی وخت هم راغلی چی دمستعمری جوړولو اولرلو موضوع دسیالی اورقابت بڼه غوره کړی یو وخت ځینی ښکیلاکي قوتونه لکه انگریزان په دی هم بریالی شوی چی دټولی نړی یو پرڅلورمه برخه خاوره په خپل استعماری جال کی رانښکیل کړی.

دیادونی وړده چی که له یوی خوا دنړی پرمخ دملك نیونی او پراختیا غوښتنی رقابتونه په ډیر چټکی سره روان شوی نو له بلی خوادهغوی په وړاندی په ملتونو او خلکو کي دخپلی عقیدی او تاتوبی سره مینی اودخپلو حقوقو او شتمنیو څخه ددفاع روحیه او جذبه دومره پیاوړی شوی چی همدا لوی لوی قدرتونه بیا دډیروکمزوریو او کوچنیو هیوادونو په مقابل کی مات شوی اودیرله پسی پاڅونونو په نتیجه کی یی په ډیر لږ وخت کی داستعماری سلطی تغر ټول شوی دی .

په ۷ مخ کي

## دحیرتانو څخه کابل ته دوسلی راتلل دوام لری

### په تیره میاشت کی (۱۰۸۰) عرادی لاری دمزارشریف هوایی ډگر ته رسیدلی دی

په ۸ مخ کې

## عراقی پوځیانو ٤٠ فیصده کویتی اوسیدونکی دخپلو کورنیو په مخ کی وژلی

کویټ ،دپاکستان ورځپانه :

دسره صلیب دنړیوالی خیریه موسسی دڅلوریښتمی کلیزی په کنفرانس کی دکویت ددولت دگډون کوونکی هیئات مشر ډاکټر عبدالله حامد ویلی دی چی پرکویټ باندی دعراقی پوځونو دیرغل په دوران کی ٤٠ په سلو کی کویتی اوسیدونکی دهغوی دکورنیو په مخ کی وژل شوی دی.

همدارنگه په سلو کی ٢٠ کویتیان په بیلابیلو سیمو کی دتشدد اواذیت په واسطه له منځه وړل شوی دی .

ډاکتر عبدالله حامد ویلی دی عراقی یرغلگرو پوځونو پردی سربیره دکویتی ښځو پر عزت هم تیری کړی .

ده زیاته کړی دکویتی ټولنی دروایاتو له امله تراوسه یوازی دبی عزتی ٣٠ په سلو کی واقعات برملا شوی دی.

## دنجیب رژیم تربل هر وخت کمزوری اوډیاڼ په سر ولاړ دی ، فقط یوه متحده اوپریکنده گوذار ته اړتیالري

الحاج حقاني

# جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش


## دسری امپراطوری سقوط اودبوش نوی نړیوال نظام

عبدالوکیل

په دوهمه نړیواله جگړه کی روسی کمونستی امپراطوری دامریکا متحده ایالاتو انگلستان ، اودهغوی دنورو متحدینو په پلوی دالمان ، ایتالیا او جاپان په مقابل کی جنگیده ، خو کله چی په ۱۹٤٥م کال کی دامریکا متحده ایالاتو دجاپان دهیروشیما اوناگاساکی په جزیرو باندی اتومی بمونه وغورځول دهغوی یوه معنی داهم وه چی دامریکا متحده ایالاتو غوښتل نړۍ ته دیوازینی ابر ځواك په بڼه خپل ځان وښیی په داسی حال کی چی څلور کاله وروسته یعنی په ۱۹٤۹ م کال کی روسانو هم اتومی ازموینه وکړه اودغرب خصوصاً دامریکا متحده ایالاتو په مقابل کی یی دیوه جدی حریف اوابر ځواك په حیث ځان ثابت کړ.

دامریکا او روس اوپه مجموع کی دکمونستی اوغیر کمونستی هیوادونو تر منځ په سیاسی ، اقتصادی ، ایدیالوژیکی ، نظامی اوتبلیغی اړخونو کی مجادله سخته اولانوره هم کړندی شوه.

په ۱۹۷۹ م کال دروسانو په دستور دویتنام دنظامی قواوو په واسطه دکمبودیا اشغال اوپرافغانستان باندی دروسی عسکری قواوو مستقیم تیری اوهمدارنگه په یو شمیر آسیایی،افریقایی اولاتینی امریکا وروسته پاتی ساتل شویو هیوادونو کی دروسانو نفوذ اودهغوی بول بول مداخلو غرب ته نوی تکان ورکړ.که څه هم په دی وروستیو کالونو کی دافغانی مجاهدینو په واسطه روسانو ته بی شمیره اقتصادی،اوسیاسی ضربی ورکړل شوی اوهغوی یی له افغانستان څخه تیښتی ته مجبور کړل اوهمدارنگه دامریکا متحده ایالاتو اوپه عمومی بول سره غرب دروسانو په تناسب په اقتصادی نظامی ، تبلیغی او سیاسی ساحو کی وړاندی شو خو که چیری روسان دغیر کمونستی قواوو له خوا دداخل څخه نوی منفجر شوی نودنظامی برخورد له لاری دهغوی سقوط به نه جبران کیدونکی ورانی اوفاجعی رامنځ ته کړی وای،همدارنگه که دروسانو په حساسترینو او مهمترینو ار گانونو کی دغیر کمونستی قواوو نفوذ نه وای موجود نو دکامینولیت په بڼه دروسانود امپراطوری بدلون ددی باعث کیدای نه شوی چی دغه خونړۍ امپراطوری دی رنگه شوی وای .

څه موده مخکی ویتنام ، لاوس ، کامبودیا ، مغلستان ، حبشه ، انگولا ، پولینډ ، چکوسلواکیا ،هنگری ، بلغاریا ، رومانیا ، پخوانی ختیځ المان اویو شمیر نور هیوادونه دکامینولیت په بڼه په روسی امپراطورۍ پوری نه وتړلی اونه په ظاهره دروسی امپراطورۍ جز گڼل کیدل خوپه حقیقت کی دروسانو تر پوره نفوذ او اثر لاندی وو اودوی خپلواکی یی ورشندۍ کړی وې خو دروسیې په کمونستی امپراطورۍ کی وروستی تغیرات او گرایشونه دهغی سقوط اوړنگیدل اودهغوی په حساسترینو ارگانونو کی دغیر کمونستی ځواکونونفوذ په ځرگند بول سره په گوته کوی ددغو تحولاتو له جملی څخه یی یو شمیر دادی .

- په ظاهره دگورباچوف په رهبری په روسی کمونستی امپراطورۍ کی دغیر عملی اقتصادی اوسیاسی پلانونو طرحه اودهغوی داجرا کولو ناکامی هڅی .
- لویدیځ المان ته دختیځ المان پریښودل اودختیځی اروپا په کمونستی هیوادونو کی کوم چی دروسی کمونستی امپراطوری تراستعمار لاندي وو ( پولینډ ، چکوسلواکیا ، هنگری بلغاریا او رومانیا ) دکمونستی اقتدار ړنگیدل .
- په حبشه ، کمبودیا ، نیکاراگوا ، انگولا ، اویو شمیر نورو هیوادونو کی دغیر کمونستی دولتونو رامنځ ته کیدل .
- دپخوانی شوروی اتحاد په نوم دروسانو په کمونستی امپراطورۍ کی بی ساری سیاسی اواقتصادی بحران چی ددغی امپراطورۍ دامکاناتو اوشرایطو په نظر کی نیول سره دنړۍ دغیر کمونستی قواوو دنفوذ څخه پرته په دی پیمانه ممکن نه ؤ .
- دروسیې په کمونستی امپراطورۍ کی دکمونست گوند ړنگول .
- په حساسو شیبو کی دامریکا له رهبری سره دروسی رهبری مستقیم تماس اودروسانو دیو شمیر اتومی وسلو دله منځه وړلو په نظر کی نیول .
- په امریکا دمیر «په نوم دفضای دایمي اوثابت استیشن دخرڅولو موضوع .
- دکی جی ، بی څخه سی ، آی ، ای ته ورته دستگاه جوړول اوپه هغی کی وروستی نور تغیرات.
- دوارسا نظامی اوسیاسی تړون ړنگیدل اوپه ناتو کی دیلتسین له خوا دروسیې دغړی کیدو غوښتنه .
- دگورباچوف وروستی اعترافات هغه داچی گورباچوف دامطلب په نړیواله سویه افشا کړچی دهغوی یو شمیر مهمو او حساسو مسایلو

« په ۷ مخ کی»

# دسري امپراطوري زوال خو ....!

محمد زبیر «شفیقي»

دروان کال دجدی په پنځم ماسبام دگورباچوف پر استعفا بالاخره هغه ستره امپراطوری رنگه شوه چی دمیلیونو انسانانو په وینواو غوښو یی بنیادونه دریدلی وو ، هغه سترهیواد چی زموږ دهیواد څلور دیرش نیم برابر ؤ پنځلس توټی شو ، دنړی ننی نسل دتاریخ دیوی ستری پیښی شاهد شو ، دادالله (ج) نه بدلیدونکی سنت دی اوموږ دبشری تاریخ په پانو کی ددیرو داسو پیښومثالونه لرو چی نن یوه زموږ په وړاندی پیښه شوه ، بشری تاریخ همدغسی دسترو سترو قومونو ، پاچاهینو ، امپراطوریو او تمدنونو دراپیدا کیدو ، اعتلا او زوال کیسی لری .

دفارس ، روم ، یونان ... امپراطوری نن دتاریخ دپانو کیسی دی اوپه همدغو کیسو اوس یوه بله دیره عجیبه کیسه اوپیښه ورزیاته شوه نن سره امپراطوری پرونی دبشر سولی امن او انسانیت ته سترگوابن دتاریخ یوه کیسه شوه او نور بهر وجود نه لری .

نور هغې سره پوځونه نشته چی پرگاونډیو هیوادونو وروخیژی ، نور دلور اوڅوتك تر سیوری لاندی دکارگرو او کرگرو لوتماران پخپل غم اخته دی سره امپراطوری چی دمیلونونو انسانانو په وینو جوړه شوی وه نوره توټه توټه شوه او نن په نړی کی دلینن پرونی پیروان دهغه په نوم اخیستلو شرمیږی .

دروس دستری امپراطوری نړیدل دنړی دتاریخ کومه عادی پیښه نه ده او یقیناً چی ددوران سازو تاریخی پیښو له جملی نه یوه دیره ستره پیښه ده .

دیوه دوران ، یوی ستری امپراطوری ، یوه خطرناکی اوغولوونکی ایدیالوژی بشپړه نابودی او توټه کیدل به څه ور کوم عادی حادثه وگڼو اوبیا دغه حادثه دغه پیښه او دسری امپراطوری دغه حیراوونکی اوډرامایی ، زوال له څو اړخونو دتاریخ ددیرو سترو حادثو له ډلی نه شمیرل کیږی چی تر تولو یو ستر اوحیرانوونکی اړخ یی دادی چی دروس اتومی طاقت اوسترنړیوال جنگی ماشین دیوه بی وزله اودمادی تمدن له قافلی نه وروسته



پاتی ملت تر برمیالو کامونو لاندی شو چی همدغو ماته دستر روس دماتیدو او توټه کیدو ستر علت او لامل شو .

نن چه دروسیی اوسنی بدلونونه اودکمونیزم شرمیدلی ماته او رسوایی په نړی کی خلك بول بول تعبیروی دوخت ستر مستکبر خوهیڅ وخت هم نړیوالی حادثی له خپل اثر پرته نشی تصور کولی ، دغسی دغه تاریخی جریانات هم بول بول تعبیریږی ، اودروس توټه کیدل دځنو خاصو عواملو نتیجه گڼی خو داښکاره حقیقت دی چی دنړی دجغرافیایی نقشی ددغه بدلون یوازینی تر تولو ستر عامل دافغانستان دبرمیال ولس جهاد ؤ.

که روسی پوځونو په افغانستان کی ماته نه وای خوړلی گرانه وه چی نن دی نړیوال دهغی دشان اودبدبی دخاوری کیدو شاهدان وای ، ځکه زموږ هیواد پریمانه خام طبیعی ذخایر درلودل چی روسیی ته دکلونو کلونو لپاره بس وو ، اوویجاړ اقتصادی حالت ته یی یوه پشتوانه کیدای شوای خو برعکس دافغان مومن ولس جهاد دروس په لویدلی اوویجاړ اقتصادی حالت یوبل بوج

شو چی بالاخره یی له وړلو نه عاجز شول .

په هر صورت دخوښی ځای دی چی نن موږ دروس دتیری دکالیزی دغندنی سره یو ځای دسری امپراطوری او سری فلسفی دایری کیدو او توټه کیدو جشن هم لمانځو خو دردوونکی داده چی دغه ستر ویاړ چی زموږ ملت گټلی او هسی خوشی یی نه دی گټلی دافغانی مومنو شازلمیانو ۱۷ لکه اتلان ورباندی قربانی شوی دی نن له موږ نه پردی کیږی زموږ دمومن ملت دیارلس کلنی قربانی ثمراو اثر خوبس همدادی چی دنړی یو ستر مستکبر یی مات کړ اوپه خپل هیواد کی داسلام بیرغ ورپوی ، خو که خدای (ج) مه کړه زموږ له ملت نه همدغه دواړه ویاړونه واخیستل شی په هیواد کی مو دملت دپرگنو دخوښی پرخلاف دپردیو دلاس اله نظام جوړیږی او زموږ دشهیدانو دوینو په برکت توټه شوی سره امپراطوری هم دنورو په تدبیر او تدبر پوری اړونده شی نو معنی یی داده چی زموږ ملت دغه په لکونو تنه



شهیدان ، دهیواد ورانی ، بی کوری او دربدری دهیڅ لپاره کړی او کومه مثبته نتیجه نه ده ورباندی مرتبه شوی ، چی په دی صورت کی که هر څومره پر دښمن دپړی بار وراچوو زموږ جهادی قیادت

هم له مسولیت څخه نشی خلاصیدای .

باید په دی پوه وو چی دجهاد لومړی نتیجه « دروس توټه کیدل اوماتیدل مو پر دوهم پړاو» په هیواد کی دسوچه اسلامی نظام جوړیدل » پوری مستقیمه اړه لری ، که مو په هیواد کی دالله(ج) اورسول دارشاداتو په بنا اسلامی حکومت جوړ کړای شو نویقیناً به مومن افغانان پر نړیوالو او راتلونکو نسلونو دکمونیزم دفاتحانو په حیث منو خو که نتیجه خدای (ج) مه کړه بل څه وه گرانه ده چی په خپله دغه ادعا ومنلی شو په داگه باید ووایو چی دجهادی قیادت وروستی کشمکشونه اودردوونکی اختلاف زموږ دتیر دیارلس کلن برمیال جهاد دبی دریغه قربانیو دغوښتنو او تقاضا خلاف دی ، په داسی حساس او نازك وخت کی ددومره ژورو اختلافونو راڅرگندیدل خدای (ج) مه کړه ددی معنی لری چی دښمن مو کورته ننوتلی اودخپل په جامه کی راته ولاړ دی او په دی هم باید وپوهیږو چی په داسی نازکو حالاتو کی سهوی او غلطی ملتونه



دنړی له مخی نه محوه کولی شی ، که محوه نه شی دبری ، اعتلا او خپلواکی له منزل نه خوییی دیر وروسته تیل وهلی شی چی لری نه همدا تیره پیړی زموږ له ملت سره همداسی وشول خدای (ج) دوکړی نن همغه کیسه بیا تکرار نشی .

وماعلینا الاالبلاغ

# روسي بنديان اودافغانستان دقضيي حل !!

**"احمد ضیا" رحیمزي**

زموږ پرهیواد دروسی یرغلګرو پوځونو تر بی شرمانه یرغل وروسته اوبیا د۱۳٦۸ کال ددلوی د۲۸ می نیټی نه پس چی روسی یرغلګرپوځونه دشرمیدلی ماتی وروسته زموږ له هیواده په تیښته شول ، روسی واکمنو چی کله هم غوښتی دافغانستان دربړی دحل لپاره څه لاری چاری ولټوی ، ترټولو لومړی یی دخپلو څو تنو پوځی اسیرانو دخوشی کیدو موضوع رامطرح کړی اود هغی په خوشی کیدو یی ټینګار کړی .

په دی تړوله موده کی څه دروسی وحشی لښکرو دموجودیت په دوران کی اوڅه دهغوی تروتلو وروسته دمجاهدینو له خوا یو زیات شمیر روسی بندیان په مستقیم ډول یا دنړیوالو خیریه موسساتو په منځګړی توب خوشی کړای شوی اویو شمیر نور هم دکابل دمزدور رژیم په زندانونو کی دپرتو مجاهدو زندانیانو سره تبادله شوی دی .

دروسانو له خوا دڅو تنو محدودو روسی بندیانو دخوشی کیدو دجدی اوپرله پسی غوښتنو په ځواب کی تل مجاهدینو ویلی دی چی ددی بندیانو موضوع دافغانستان دقضیی یو غیر مهم او وړوکی جز دی ، دوی دمجاهدینو دمیلمنو حیثیت لری ،اودافغانستان دقضیی دحل سره به هغوی خوشی کړای شی ترڅو خپلو کورونو ته ستانه شی .

بل لوری ته دافغانستان ددیرش یا څلویست زره دهغه اوسیدونکو دسرنوشت مسله چی په کابل کی دثور دکرغیرنی کودتا نه پس اودجدی په شپږمه دروسی پوځونو دسره یرغل په جریان کی دخپلو کورونو ، کلیو اوکوڅو څخه دمزدور رژیم له خوا دروسی مشاورینو قومانده او حتی مستقیمه مداخله نیول شوی او ترننه یی کورنیو ته دمرګ یا ژوند احوال ندی معلوم شوی ، دروسی پوځی اسیرانو دخوشی کیدو په لار کی دیوه بل لوی خنډ حیثیت لری .

دروان لمریز کال پدی څو وروستیو میاشتو کی چی دافغانستان دقضیی دحل په اړه نړیوالی ډیپلوماتیکی هلی ځلی پراخه شوی ، یو ځل بیا دروسی اسیرانو موضوع ډیره توده مطرح کیږی .

مسکو ته تیره میاشت په پاکستان اوایران کی دمیشته ځینو جهادی ډلو دیوه هیات سفر ، او هلته دروسی واکمنو سره دهغوی دخبرو اترو په ترڅ کی دپخوا په شان روسی لوری یو ځل بیا دافغانستان دربړی دحل په اړوند دروسی اسیرانو موضوع ته ډیر اهمیت په ورکولو سره ، داسی وښوده چی ګواکی دغه مسله ددی مذاکراتو اصلی ټکی دی !

ددی خبرو په پای کی چی دګډی اعلامیی په نامه څو ټکی خپاره شول دهغی یوه ماده داهم وه چی دمجاهدینو لوری ژمنه کړی چی دنوی عیسوی کال ۱۹۹۲ تر راغبرګیدو دمخه به دروسی اسیرانو یوه ډله خوشی کړی .

وروسته بیا اسلام اباد ته دفدرالی روسیی دجمهور رئیس مرستیال « روتسکوی » دراتلو اوزموږ دځینو جهادی مشرانو سره دخبرو په وخت کی روسی لوری تر هر څه دمخه دهمدی روسی بندیانو دخوشی کولو په موضوع ټینګار کاوه .

روتسکوی چی کله داسلام اباد په هوایی ډګر کی ښکته شو نو دخبریالانو دپوښتنو په ځواب کی یی وویل چی دمجاهدینو لوری دمسکو داعلامیی دعملی کولو په لار کی مخلص نه ښکاری ، هغه ادعا درلوده چی دوی دمسکو تر تړون وروسته دکابل په رژیم باندی هر ډول نظامی مرستی بندی کړی دی ، ځکه نو مجاهدین باید دخپلی کړی وعدی سره سم دروسی اسیرانو لومړی ډله خوشی کړی.

دروتسکوی له راتلو سره سم په پیښور کی یوه جهادی تنظیم اعلان وکړچی دوی به خپل یو روسی اسیر پرته له هر ډول تبادلی یاقید اوشرط څخه ازاد کړی ! اوکابل ته دروتسکوی تر رسیدو وروسته دمسکو په مذاکراتو کی دمجاهدینو دهیات مشر دمسکو داعلامیی دیوی مادی دتطبیق په نامه ( دخپلی کړی وعدی سره سم ) دیوی ډلی ( دری تنو) روسی عسکرو دخوشی کیدو اعلان وکړ.

ولی ددی ټولو سره سره دفدرالی روسیی دجمهور رئیس مرستیال روتسکوی کله چی له اسلام اباد څخه کابل ته روانیده ، دمجاهدینو سره یی دافغانستان دکشالی دحل په اړه ټولی کړی وعدی هیری کړی ، اویو ځل بیا یی دملګرو ملتو سازمان دطرحی په اساس اوپه اصطلاح دبین الافغانی ډیالوګ له لاری دافغانستان دقضیی حل وغوښت ! کابل ته په رسیدو سره یی دروسی فدراسیون دنوی ازاد شوی جمهوریت اوکابل رژیم تر منځ په هراړخیزه دوستانه اړیکو

په ٦ مخ کي

مسکو ته تیره میاشت په پاکستان اوایران کي دمیشته ځینو جهادي ډلو دیوه هیأت سفراو هلته دروسي واکدارانو سره دهغوي دخبرو اترو په ترڅ کي دپخوا په شان روسي لوري یو ځل بیا دروسي اسیرانو موضوع را مطرح کړه

اسلام اباد ته دروتسکوي دراتلو اوزموږ دځینو جهادي مشرانو سره دخبرو په وخت کي روس لوري ترهر څه دمخه دهمدي روسي بندیانو دخوشي کیدو په موضوع ټینګار کاوه

---

# درزندان هاي هند چه میگذرد؟

ترجمه : احمد سعادت

زندانهای هندوستان در ظلم وشکنجه خود شهرت بین المللی راحاصل نموده اند (۲۰) هزار جوان مسلمانو مبارز روزانه به انواع شکنجه ها دراین زندانها روبرو می شوند . هندوستان بخاطر درهم کوبیدن حرکت مجاهدین کشمیر هزارها شکنجه گاه ها را تاسیس نموده است که برای همه ملت کشمیر جهنم است وبس . جوانان مبارز زمانیکه دروادی کشمیر در مقابل ظلم بربریت هندوها مقاومت می نمایند تمام خانه وکاشانهء مسلمانها بدون تمیز مورد هدف گلوله های اتشین هندوها قرار میگرد ،می سوزند ویا خاك یکسان میگرددند ، جوانان به سلول های زندان برده میشوند . درانجا عریان می گردند به طرق گوناگون اذیت می شوند ، هرمجاهد ازاد شده از محبس های جهنمی هند دراثر شکنجه بی رحمانه ان در جامعه فاقد صلاحیت کار است .

دروادی کشمیر چندین شکنجه گاه وجوددارد ولی مشهورترین ان «گوکولیند » مرکز تفتیش درسری نگراست ، ودر پهلوی ان یك مرکز امنیتی پولیس هم قرار دارد که در انجاتقریباً هر ماه دوصد جوان مسلمان کشمیری دربدترین وضع شکنجه زندگی بسر میبرند که درزیر زمینی های این عقوبت گاه ها عدهء اززن های مسلمان هم زندانی اند .

دراین دو تفتیش گاه ها هرنوع اعمال غیر انسانی که قلم از ذکر ان عاجز است در مقابل محبوسین مسلمان صورت میگرد .

هر روز پنجشنبه مجاهدین را مجبور میسازند که گوشت خوك بخورند وفلم های عریان راتماشاه کنند مجاهدین رانه تنها به هم جنسی اماده میسازند بلکه جبراً ایشانرا با اعمال غیر انسانی وامیدارند .

یك مجاهد رهاشده ازمرکز «گوگولیند »اظهارداشت که اودر انجا دریك اطاق مزین بایك اسیر ملاقات داشته است وی علاوه بادیگر بیاناتش گفت که گوکولیند در حقیقت کود«شفر»مرکز تحقیقاتی نیروهای هندی است مطابق گفته ان مجاهد در انجا چندتن از جوانان در اطاق های جداگانه که خیلی ها مزین شده اند در عیش وعشرت وتنعم زندگی بسر میبرند وبهترین غذابرایشان داده می شود ، هر شام ان هاهمراه با نیروهای امنیتی هندی نظامی ودیگر تمام ماموریت هاومکاتب پولیس در سرینگر اکنون به حیث مراکز تحقیقاتی کار میکنند وعده کثیر از کشمیری ها در زندان ها ومراکز تحقیقاتی محلی وادی کشمیر درحراست اند ، تمام ماموریت های پولیس در برمراکز مجاهدین شب خون میزنند ودرمورد اسرای دیگر مخبری می نمایند ، کشمیر اشغالی رانام دیگرش (گوکولیند ) است مناطق میدان هوایی سابقه ، میدان هوایی جدید ، میدان تتو ، بادام باغ ناحیه نبر ١٦ شهر جامو عملاً به مراکز تحقیقاتی تبدیل شده اند .

علاوه از زندان های جامو وکشمیر اکثریت قید خانه های هندوستان ازمجاهدین کشمیری ومدم بی گناه ان مالامال اند وخصوصاًمجاهدین در بندی خانه های مرکزی دهلی ، اترپردیش ، تامل نادو پتاله شکنجه های غیر انسانی رامتحمل می شوند دراین زندانهابیش از بیست هزار کشمیری به شمول مرد وزن که عمرشان از ۱۸تا۲٤ اند توسط نیروهای کثیف هندی اذیت روحی وجسمی می شوند .

تاکنون مطابق گفته رئیس کل نیرو های امنیتی هند دو هزار مجاهد بعد از تفتیش رها گردیده اند در حالیکه مقامات پولیس اظهار داشته اند که (٦۰۲) تن ان نظر بند و(٤٧۰) تن دیگران در زنجیر وزولانه در زندان ها افتاده اند .

دراین زندانها برای مجاهدین زندانی دریك ماه هم حتی اجازه غسل کردن داده نمی شود ، در زندانهای که انها حبس اند درجه حرارت درموسوم گرمی نسبت عدم موجودیت بادپکه خیلی سرلودرموسوم سردی نسبت اب پاشی نمودن ونبودن توشك ولحاف است که باعث بیماری های جلدی وانواع دیگری مرض ها گردیده است وگاهی هم که بعد ازیك ماه برایشان اجازه غسل داده می شود ازصابون خاصی کارمی گیرند که باداشتن مواد کیمیاوی خاصی بعد از دوبار ویاسه بار تمام موی های بدن زندانیان رامی ریزاند.

همان است که هر مجاهد ازاد شده اززندانهای هند فاقد موی وتاس است برای استراحت مسلمانان کشمیری دراین زندانهای حیوانی کمپل داده نمی شود وبرای ٦ تا ٨ تن ان صرف یك ظرف برای رفع حاجت شان مهیا است که باعث تکلیف روحی

درصفحه ٦

تاکنون مطابق گفته رئیس کل نیروهاي امنیتي هند دوهزار مجاهد بعد از تفتیش رها کردیده اند درحالیکه مقامات پولیس اظهار داشته اند که ٦١٢ تن از ان نظر بند و ٤٧۰ تن دیگر ان درزنجیر وزولانه درزندان ها افتاده اند

## جهادي ادب

بشردښمنه ، نـړي خـوره ، سـري خـوربلاکه
ښـه شولی رسوا شولی ، تباه شولی مخ تورشولی
تـاوي نـړی بـه پـکی سیـزم زه به یی سیل کوم
خوتـه پـه خپـله لـولپـه پـه هـغه اورشولی

## تکبیر

م ، ز شفیقی

بیا راویښومه داویده نړۍ
بیایی پوهومه داساده نړۍ
بیا پری گډومه دتکبیرچیغی
بیرته چی ژوندی کړمه‌دامره نړۍ

***

بیا یې منترونو ته غوږ ایښی دی
بیا یی پر گنی شولی درنی ویدی
خدایږو سکوت مرگ دی اوچی مات یې کړی
بیا راویښومه زلزلی ویدی

***

دلته که ازانگی دتکبیر نه وی
دلته که دوینو دیوی مړی شولی
خودبه راخوریږی طاغوتی نظام
چوپی دقران که زمزمی شولی

***

زموږ دسرښندنو اوغیرت څلی
دنگ به شی لا‌دنگ‌به‌شی لادنگ به شی
زموږ دتوریالیو دمورچل اواز
خوربه شی امت ته لوی غورځنگ به شی

***

نو!
څمه دپامیر سرته اذان کوم
بیا راویسمه داویده نړۍ
بیا پری گډومه دتکبیر چیغی
بیرته چی ژوندی کړمه‌دامره نړۍ

نه افغان ونه تـرك وتتاریم
چمن زادیم وازیك شاخساریم
تمیز رنگ وبوبرمـاحرام است
که ماپـرورده یك نوبهار یم

### دروسي یرغل ددیارلسمي کلیزي ...

په همدی ټول په پیښور کی داسلامی فرهنگی مرکز له خوا هـم دجدی د٦ مـی پـه هکله یوه غونډه جوړه شوی وه چی په هغی کی دنوموړی فـرهـنـگـی مـرکـز مـدیـر عبدالناصر شفیق ، دحزب اسـلامی دفـرهـنـگی چـارو مسـول انصـار عالـم مولانـا عبدالرحیم چترالی دفرهنگی. مرکز مرستیال غلام حبیب شـهید او نورو ورونـو خبری وکړی دغـونډی پـه پـای کی ددغه فرهنگی مرکز له خوا یو جوړ شوی جهادی فلم هم حاضرینو ته وښودل شو چی په ډیره گرمی استقبال شو .

## ننگیالي او خاطري يې

دعصر معجزه پیښه شوه یوه ستره امپراطوری دړی وړې شوه یـوه طـاغـوتـی ایډیالوژی دتـاریخ کندی تـه ولـویـده یـو بـلاك لـه منـځـه ولاړ او... داخـو دالفاظو نړی ده داخـو یو څو جملی دی چی په خوله ډیری درنی هم نه دی خو که یی په مفهوم فکر وشی بیا نو په دغو څو جملو اوڅو کلمو کی یو جهان دی ، یو توپان غلی دی ، دیو نړیوال بدلون اوانقلاب کیسه ده دملتونو دتقدیر دبدلون راز پکی دی اوربښتیا هم معجزه ده اودغه ستر بدلون او انقلاب دغه ستره‌حادثه او کیسه هغه وخت معجزه شوه چی ترشایی دیوه له سترگو لویدلی ملت لاس ؤ ، دیوه قوم لاس و چی چا ا[illegible] نشـو کولی چی دومره ستر اوښتون بـه راولـی ، چانه گـڼـلـه چی دافـغـان زمـین لـه کنډوالو نه به دسری امپراطوری کنگری نړیږی ، چانه منله چی په دی هیواد کی به دومره ستر اتلان هم راولاړیږی خو راولاړ شول ، یو نه و دوه نه وو ، دری څلور او ... نه وو په زرگونو او لکونو تنه وو ، دسرښندنی اتلان وو ، ځوانی یی لوگی کړی ارمانونه یی خاوری کړل خو ملت او امت ته یی عزت وباخښـه دهمدغو اتلانو اوهمدغو سرښندونکودقافلی یو تن مخامخ درته ناست دی ویی پیژنی :

خیرمحمد خان دنورخان زوی دڅمکنیو ولسوالی دتمیو دکلی اوسیدونکی دقادر خان قوماندان سره مجاهد ؤ دخوست په لومړی تعرضی برید کی دتمیو پرپوستی دتعرض په حال کی دمین دچاودنی په اثر یوه پښه له لاسه ورکوی .

## دوطن یاد

عاصم ثمرخیلی

همیش ستـا پـه مینه پایوتل به ستا غیږ کی اوسیږو
یـو گـړی‌مـو قـرارنـه شـی چی بی تاوهوسیږو
ستـالمـن کـی مـی ستا دپت اودغیرت سندری ویلی
پـه نظـرچـی بـد درگـوری هغـه دم پسی پاڅیږو
ستا عزت راباندی گران دی ولی څه کړو واك دبل دی
وخـت راتلـوونـکی دی عـزیـزه ستالمن کی به لویږو
اوس دی ستـاسینه کی گرځی دنامردو لوی ټانکونه
دحسـاب ورځ بـه رارسـی وطـن پلـورو ته قهریږو
شـاوخـوا درتـه پـراتـه دی توریالی توری ویستلی
دخپـل تـول قـوت سـره بـه سـتا برجل ته ورسیږو
دنفـاق تخـم ،مـوږ کـی خپـل پـښو دی رالـونلی
اوس هـریـو پـه دی پوه شوی چی یونه شړنو ورکیږو

## دنورڅلی

دسید عبدالمنان ژباړه

عبدالله بن شجیر (رض) دنبی علیه اسلام (ص) یو اصحابی دی ، دی دنبی علیه السلام دخدای پاك نه دوریدو اودخپل امت سره دډیر غم په باب داسی فرمایی : یو ځل می ولیدل چی حضرت محمد مصطفی (ص) په لمانځه ولاړ دی له سترگو مبارکو څخه یی اوښکی روانی دی اوپه سلگو دی داسی لکه دیوه لوی غم دلاسه چی څوك ژاړی.

***

یو ځل نبی علیه السلام په یوه جنازه کی شریك ؤ قبر کـنل کیدو مبارك (ص) دقبر یوی غاړی تـه کیناست دقبر دغه منظره یی چی ولیده په سترگو مبارکویی تیاره شوه اواوښکی یی په ځمکه وغورځیدی اوبیا یی داسی وفرمایل : ورونو ! ددغی ورځی لپاره تیاری ونیسی .

***

یو ځل نبی علیه السلام له کومی غزا نه وروسته تشریف راووړچی په لاره کی ددمی ځای راغی اوهلته څه خلك ناست ؤ محمد (ص) هغو ناستو خلکو ته وفرمایل : تاسی څوك یاستی :

هغوی وویل : موږ مسلمانان یو .

بلی خواته یوه ښځه ناسته وه او اوربی بلاوه ترڅنگ یی یو کوچنی زوی هم ناست ؤ اورچی کله ښه په جوش راغی اولمبی یی پورته شوی نو دی ښځی خپل کوچنی زوی راواخیست اودنبی علیه السلام حضور ته راغله اوویی ویل : تاسی دالله تعالیٰ پیغمبر یاستی ؟

نبی علیه السلام وفرمایل : هو : بی شکه .

بیا هغی ښځی پوښتنه وکړه څومره چی یوه مورپخپلو بچیو مهربانه ده ولی الله تعالیٰ دهغی نه زیات پخپلو بندگانو نه دی مهربانه ؟

نبی علیه السلام بیا وفرمایل : ولی نه ، بی شکه .

ښځی بیا وویل : ښه نو یوه مورخو خپل زوی په اورکی نه غورځوی ؟

نبی علیه السلام چی دښځی داخبره واوریده حالت یی تغیر وخوړ، سرمبارك یی راپورته کړ او ویی فرمایل :

الله تعالیٰ به خپل هغه نافرمانه بنده ته عذاب ورکړی چی سرکشی کوی باغی وی دخدای (ج) حکمونو ته غاړه نږدی اودالله تعالیٰ دذات څخه انکار کوی .

بیایی دحضرت ابراهیم ع دادعا وفرمایله :

« ای پروردگاره بوتانو ډیر خلك گمراهان کړل نوچاچی زما پیروی وکړه همغه زما دډلی خلك دی »

اوله دی وروسته یی دحضرت عیسیٰ (ع) دوعا ولوستله :

«ای الله که عذاب ورکوی هم ستا بندگان دی اوکه مغفرت ورته کوی نو هم ته مهربان ، غالب اودانا ذات یی"اوله دی وروسته یی دواړه لاسونه مبارك دخدای پاك په حضور کی پورته کړل اودخپل امت دبخښنی لپاره یی دوعا وی وکړی په داسی حال کی چی دسترگو مبارکو څخه یی اوښکی روانی وی .

نبی علیه السلام به فرمایل : ای خلکو په کومو شیانو چی زه پوهیږم په هغی تاسی نه پوهیږی که چیری پری پوی شی نو ویه خاندی کم اوویه ژاړی زیات

***

عبدالله بن شجیر فرمایی : زیات وخت چی به نبی علیه السلام په لمانځه ولاړ ؤ نوله سترگو مبارکو څخه به یی اوښکی څڅیدی .

چی دسترگومباکو څخه یی داوښکو دڅڅیدو خاص علت دخدای (ج)څخه ویره اودامت دمغفرت غم ؤ حتیٰ چی یو ځل نبی "ع" دکسوف دلمانځه دادا،کولو څخه وروسته داسی وفرمایل :

« خدایه تاوعده کړی چی زما په موجودیت کی به په خلکو عذاب نه نازلوم » دخدای پاك څخه دویری داحال وو چی اکثره به دشپی پاڅید الله تعالیٰ ته به په زاریو شو او کله کله به دکومی هدیری پلور ولاړ اودخپل امت دبخښنی لپاره به یی دالله په حضور کی دوعا وی غوښتی ،خوراشی اوس یی دامتیانو حال گوری چی څه کوی اوپه کومه لار روان دی.

# بیت المقدس

## اویهودو ناوړه عزائم

لیک اوژباړه : سید شهریار

په فلسطین کی یو عظیم اوسپیڅلی ځای کوم ته چی موږ «بیت المقدس» وایو دجغرافیایی لحاظه ځانگړي خصوصیات لری .

بیت المقدس ۳۳ پیړی پخوانی تاریخی ښاردی چی ددوو غرونو "موریه" او "زیتون" په منځ کی پروت دی ، که څه هم بیت المقدس دسوداگرۍ یادتجارت په کوم مهم ځای کی پروت نه دی خو بیاهم کله دغه سیمه دقحط سره نه ده مخامخ شوی . البته څو کرته دزلزلو او خونړیو جنگونو له امله ورانه اوویجاړه شوی ده ، دډیرو ولسونو دفرهنگ اوکلتورکیسی دهمدغه ښار سره تړلی دی اودډیرو ولسونو بوزغلی دهمدغه ځایه زرغون شوی او دوخت په تیریدوسره وچ شوی اوله منځه تللی دی . دغه سیمه ددریو مذاهبو دپیروانو یعنی مسلمانانو ، عیسویانو او یهودیانو لپاره ځانگړی اهمیت لری .

دمسلمانانولپاره دلومړۍ ورځی نه دغه بیت المقدس متبرك دقدر او احترام وړ دی اوداځکه چی دمسلمانانو لپاره د حرم شریف او مسجد نبوی څخه وروسته دریم مقدس او سپیڅلی ځای دی اوتر تهولونه زیات دمسلمانانو لومړی قبله هم ده ، دحضور (ص) دهجرت نه ۱۷ میاشتی وروسته هم مسلمانانو دبیت المقدس پلور لمونځ کاوه اودمبارك معراج په سفر کی هم همدغه مبارك ځای دنبی علیه السلام لومړی منزل ؤ او زموږ دعقیدی سره سم حضرت داودعلیه السلام اوحضرت سلیمان علیه السلام هم په همدغه ښار کی دفن شوی دی .

دعیسویانو لپاره دغه ځای له دی امله مقدس او قدرمن دی چی عیسیٰ (ع) ته «صلیب الطبوت» په همدی ښار کی ور کړی شوی دی .

دیهودولپاره ددی امله مقدس او قدرمن دی چی دلوی ددعوی له مخی «هیکل سلیمانی» دمسجد اقصیٰ په حدودو کی دفن دی اودوی یی له سره نوی جوړول غواړی خو پخپله دیهودو په مذهب کی دهری عبادتخانی ورانول لویه گناه ده .

ویل کیږی چی دبیت المقدس دجوړیدو لپاره حضرت داؤد (ع) دنړدی سیمو څخه سره زر ، سپین زر ، زیړ لعلونه او جوهرات او دلبنان څخه یی دښونه ښه لرگی راوغوښتل او دخپل مبارك ژوند په وروستیو ورځو کی یی دبیت المقدس دجوړیدو خاکه خپل ځوی حضرت سلیمان (ع) ته وښوده .

حضرت سلیمان (ع) د داؤد (ع) دوفات څخه وروسته په تخت کیناست او دبیت المقدس په جوړیدویی پیل وکړ . مورخین لیکی چی دبیت المقدس د زیبا ئش او ښکلا لپاره دیوی اندازی له مخی (۱۳۰) لکه پونډه سره زر او ۱۲ لکه او ۷۰ زره پونډه سپین زر ولگیدل خو بیا هم دحضرت سلیمان (ع) په ژوند په پوره توگه سرته ونه رسید چی هغه یوه جدا موضوع ده . په بائبل کی دلیکل شویو سندونوله مخی بیت المقدس دخپل وخت دهنر یو عظیم شاهکار بلل کیږی چی اوږدوالی یی (۹۰) فوټه پلنوالی یی (۳۰) فوټه او اوچتوالی یی (٤٥) فوټه ؤ: دیهودو وینا له مخی دبیت المقدس دجوړیدو وروسته دبیت المقدس په تالار کی هغه تابوت (صندوق) کوم ته چی دوی هیکل سلیمانی وایی کیښودل شو ، یهودیان په دی دعوه دی چی په نوموړی صندوق کی دیوسف (ع) جسد مبارك ؤ . ولی قران کریم په دی باب داسی فرمایی ، ترجمه : په دی سربیره دهغو پیغمبر هغوی ته داهم وښودله چی «خدای (ج) له لوری دطالوت» دپاچا په توگه دټاکل کیدو نښانه داده چی دهغه په زمانه کی به هغه صندوق تاسی ته بیا راشی چی په کی ستاسی درب (ج) له لوری ستاسی له لپاره دډاډگیرنی وسایل دی چی پکی دموسیٰ (ع) او دهارون (ع) دکورنی موروثی مقدسات دی اوهغه چی فرښتو خوندی ساتلی دی که تاسی مؤمنان یی نو دا ستاسی له پاره ډیره ستره نښانه ده البقره ۲٤۸ ایت.

تفاسیر لیکی :په دی صندوق کی دموسیٰ (ع) او دهارون (ع) کورنی موروثی مقدسات چی پکی دتیږو هغه لوحی هم شاملی وی کومی چی دالله (ج) له لوری موسیٰ (ع) ته په کوه طور کی ورکړل شوی وی سربیره پردی دتورات هغه اصلی نسخه چی موسیٰ (ع) لیکلی او لاوی او لادی ته یی سپارلی وه او دغه راز دمن نه ډك یو بوتل هم پکی ایښودلی شوی ؤ ترڅو وروستیو نسلونوته دالله تعالی (ج) هغه لورینه ور په یاده کړی چی په بیدیاکی یی دوی په پلرونو او نیکونو کړی وه او په قوی گومان دموسی (ع) هغه امسا هم پکی وه چی دخدا (ج) دسترو معجزو څخه گرځیدلی وه.

دحضرت سلیمان (ع) دوفات نه وروسته سلطنت په دوو برخو وویشل شو ، پنځه کاله وروسته دمصر پاچاسی ساق په یروشلم د(بیت المقدس پخوانی نوم دی ) حمله وکړه اودبیت المقدس اوشاهی خزانو ټول جواهرات اومالونه یی ولوټل .

تاریخ لیکی دسلیمان (ع) دوفات څخه وروسته اسرائیل پخپل منځ کی په دوو متضادو ډلو وویشل شول چی یوی ډلی یی دخدای پاك دمنلو پر ځای دبوتانوپه عبادت پیل وکړ ، دمصر دپاچادحملی نه وروسته فلسطینیانو اوعربوپه گډه سره یروشلم باندی حمله وکړه چی په پای کی په بیت المقدس کی باقی پاتی سره سپین او جواهرات دوی له ځانه سره سامرای ته یوړل ددغی حملی څخه لږه موده وروسته په دغه سیمه سخته زلزله راغله چی هرڅه یی گډ وډ کړل ، دعیسیٰ (ع) دپیدایش نه مخکی رومیانواو عربانو څو ځلی په بیت المقدس پرله پسی حملی وکړی چی هر څه یی په ویرانی بدل کړل .

دروم پاچا مشهور رومی جرنیل اوداسپانیا دپاچا زوی (تیتس ) په بیت المقدس باندی دحملی لپاره ولیږه په ۹ اگست ٦٧۰ کال کی نوموړی په بیت المقدس سخته حمله وکړه رومی سپاهیان دیهودو په لټون کی دبیت المقدس.

> دډیرو ولسونو دفرهنگ اوکلتور کیسي دهمدغه ښار سره تړلي دي اودډیرو ولسونو بوزغلي دهمدغه ځایه زرغون شوي اودوخت په تیریدو سره وچ شوي اوله منځه تللي دي

> تفاسیر لیکي : په دي صندوق کي دموسي (ع) اودهارون (ع) دکورني موروثي مقدسات چي پکي دتیږو هغه لوحي هم شاملي وي کومي چي دالله تعالی (ج) له لوري موسی (ع) ته په کوه طور کي ورکړل شوي وی

---

## دنور په لور

## زه ولی مسلمان شوم ؟

راجکماری جاوید بانوبیگم « هندوستانی »

دکلکتی مشهوره نوی مسلمانه شوی میرمن محترمه جاوید بانوبیگم دبنگال دیوه هندو راجه لوروه ، لوړی زده کړی یی کړی وی اوله بشپړی پلټنی نه وروسته یی اسلام قبول کړ وروسته یی ډیری ستونزی په دی لاره کی وگالای ، لاندینی وینا له اسلام راوړلو نه وروسته هغی په کلکته کی یوی غونډی ته کړی ده .

***

زما داسلام ورونو او خویندو! زه یوه نوی مسلمانه شوی ښځه یم ، اومایوسپیڅلی اورښتینی مذهب خپل کړی دی ښو ډیره خوښه یم ، زما زړه له حقیقی خوشحالی څخه ډك دی اوزمازړه غواړی چی هرانسان ته کوم چی زه توانیدلی شم دخپل محبوب سردار محمد (ص) دلوړو تعلیماتو اواخلاقو پیغام ورسوم.

ښایی تاسو که زما دمذهبونو دتحقیق اوپلټنی په باب دتجربو لنډ شانته جریان واوری نو خوښ شی ، زه په یوه هندو کورنی کی زیږیدلی یم خوپالنه می دعیسوی دین تر تاثیر لاندی شویده اوله هندی مذهب سره می هیڅ پیژندگلوی نه وه.

ماپه ۱۹۲٤ کال کی دمذهب اوفلسفی په باب ژوره مطالعه پیل کړه ما دغه مطالعه ددی لپاره نه کوله چی عالمه او پوهه شم دپوهی اوفضل له خاوندانو نه وشمیرلی شمه بلکی دحق پلټنه می کوله ، زما په زړه کی دخدای (ج) دیوه صادق اومخلص بنده په څیر دعبادت جذبه راولاړه شوه .

دبد مذهب په باب می دپوهیدو زیار وویست خودناکامی سره مخ شوم ، عیسویت ته می مخه وکړه ، له عیسایی پادریانو «ملایانو» سره می اړیکی ټینگی کړی ، خوماپه هغی مذهب کی هم داسی څه ونه لیدل چی زه دی پکی دخدای (ج) رښتونی عبادت وکړم ، دعیسویت بی شمیره فرقی چی یوله بله له ذاتی اخ اوډب اوشخصی مطلب نه پرته بل هیڅ نه وو پکی نوله مجبوری بیرته هندو مذهب ته را وگرځیدم ، ځکه دویدا فلسفه له مذهب نه دکرکی کوونکو او مرورو دتسکین لپاره ښه لاره وه خوما په عمی ژوندانه کی هندوانی د« ویدا » له لارښوونو څخه لومره لری ولیدل لکه زموږ په ذهن کی په سپوږمی کی کوم خیالی مخلوق چی له حقیقت څخه لری دی .

دهندوانو حالت ډیر درحم وړدی ، ورځ تر ورځی په دی ټولنه کی نوی نوی عیبونه اوخاصی رامنځ ته کیږی ، پر هغوی دبل کوم مذهب پیروان گوته نړدی بلکی پخپله هندوان یی عیبونه برالا کوی ، تاسو په داسی اضطراری حالت کی داسلام په قبلولو زما دخوښی اندازه ښه لگولی شی ، داسلام نه پرته په نړی کی بل هیڅ داسی مذهب نشته چی پیروان یی په دی پوره باوری وی چی دغه مذهب حق اورښتینی دی ، بالاخره ماحق وموند ، زما روح ارامه شو ، ایا نن موږ داسی مذهبی اویا ټولنیزه کمی لرو چی قرآن کریم دهغی تائید کړی وی؟ ایا زموږ دستر رهبر محبوب پیغمبر (ص) ارشادات اولارښوونی ، نورووری ، مساوات ، اوآزادی درس او پیغام نه دی چی ټول بشریت ته یی پریښی؟

بلی ! یوازی داسلام هغه مذهب دی چی انسان په رښتونی لاره رهنمایی کوی ، ایا اسلام غوندی بل جامع دین په نړی شته اوایا په نړی کی قران کریم غوندی ددایمی اورښتینو اصولو درلودونکی الهامی کتاب بل شته ؟

بیا هم وایم چی نه ! له اسلام نه پرته بل ښه مذهب نشته یوازی اسلام دعدل اوانسانیت دین دی چی مثال یی په بل دین کی نه موندل کیږی ، څوارلس سوه کاله مخکی چی قران کریم پر پیغمبر (ص) نازل شوپه هغی کی دژوند هسی کامل دستور پروت دی چی دټولنی او ژوندانه دهر اړخ لپاره دایمی تعلمیات لری نو زما لپاره دا له امکان نه وتلی وه چی هندو اویاعیسوی غوندی له کمزوریو اوخرافاتو ډك مذهبونه ومنلی شم ، که یو مذهب په ورځنی ژوند کی څوك داړه او قانع نشی کړای نو ایا هغه به هم مذهب ویللی شی ؟ اوماله ډیر فکر اوسوچ وروسته داسلام مبارك دین له منلو پرته بله لاره نه درلوده نو ځکه می ددغه ستر الهی دین غیږی ته پناه راوړله .

# بیت المقدس اودیهودو ناوره...

داخلی برخو ته ورسیدل چی په دغه وخت کی یوه رومی سپاهی بیت المقدس ته اور ولګاوه اوپه بیت المقدس کی پراته هر څه یې اورلمبه کړل دیهودو ددعوی له مخی په کوم ځای کی چی نن مسجد اقصٰی واقع دی څه وخت په دغه ځای ددوی په اصطلاح هیکل سیلمانی واقع ؤولی دتاریخ پاڼی دغه دعوه ردوی او وایی دشپږمی پیړۍ په اوږدو کی کله چی بخت نصر په دغه سیمه یرغل وکړ نو هرڅه یی له منځه یوړل له دی وروسته یشوع او زودوبانبل دیهودو دخوښی لپاره په دوهم ځل دغه هیکل جوړکړ.

داثار قدیمو پوهان پخپل منځ کی سره متفق دی چی اوسنی دغه دیوال په کوم چی دیهودو دعوه ده دهغی هیکل سلیمانی دیوال نه بلکه دوروستیو ودانیو نښه ده.

دیهودو داوسنی صهیونستی تحریك اصلی مقاصد دهیکل سلیمانی په جوړولو دمسلمانانو سره دبسمنی پیل کول دمسلمانانو عبادتخانی له منځه وړل اوداسلام جرړی ویستل دی حال داچی دیهودودی دروا غجنی دعوی څخه دلته هم پردی پورته کیږی کله چی عیسٰی (ع) یهودو ته دعوت ورکړنو یهودو دعیسٰی (ع) دعوت په ټوکو واړاوه حضرت عیسٰی (ع) دهیکل څخه دتلو په وخت کی ددغه هیکل دورانیدو پیش ګویی وکړه اوداسی یی وفرمایل: (زه وینم چی ددغه هیکل یوه تیږه به دبلی تیږی دپاسه نه وی) دعیسی (ع) ددغه پیشګویی څخه دهیکل دورانیدو اودله منځه وړو ثبوت په ډاګه لاس ته راځی.

یو سیاح ارکلف په ۴۷۰ کی دخپلو متبرکو ځایونو دلیدنی کتنی لپاره بیت المقدس ته تللی چی دی په دی باب داسی لیکی: په کوم ځای کی چی پخوا دهیکل سلیمانی په زره پوری ودانی وه اوس یی دمشرقی دیوال تر څنګ مسلمانانو دیوه مستطیل شکل ودانی جوړه کړی چی پکی په یوه وخت دری زره تنه مسلمانان لمونځونه کوی.

امام غزالی په ۱۰۹۵ کی بیت المقدس ته تشریف یوړ چی دمسجد اقصی په مشرق کی یی استوګنه غوره کړه امام غزالی همدغلته دخپل کتاب (شهره افاق) احیا العلوم په لیکلو پیل وکړ چی هغه هم پخپل کتاب کی نه دمعبد نه دهیکل اونه یی ددغی دیوال څه یادونه کړی.

دمختلفو مورخینو درایو اوډپورتنیو حقایقو څخه معلومیږی چی دیهودو دهیکل سلیمانی دعوه سراسر غلطه ده فلسطین ته ددوی خپل هیواد ویل ددی په وجه دی چی څو پیړی مخکی صرف ددغه ځای استوګن ؤ حال داچی ددوی دخپل سازشی طبیعت په وجه یواځی دفلسطین څخه نه بلکی دبی شمیره سیمو لکه شام، پرتګال، اسپانیا، فرانسی، انګلستان، بلجیم، هالیند، ایټالیا، اوغربی روسیې څخه شړل شوی او ځای پر ځای ویشل شوی دی چی په پای کی یی خپل ملی حیثیت اوخپله ژبه "عبرانی" په کوم چی یې کتاب لیکل شوی هم له لاسه ورکړی؛ په نن سبا کی دنړی دګوټ ګوټ څخه ددوی راټولول اوپه فلسطین کی ځای پر ځای کول یو صهیونستی سازش دی چی اسلام ضد عناصرو پلی کړی دی په ۱۹۴۸ کی په فلسطین کی دیهودو تثبیتول دهمدغه سازش یوه کړی وه چی یهود په اسلامی خاوره وتپل شول او لاتر ننه تپل شوی دی اسرائیل دخپلو ناوړه عزایمو له مخی دمنځنی ختیځ داسلامی هیوادو لپاره ستر خطر ګرځیدلی اودهمدغه خطر دزیاتیدو لپاره ګرد طاغوتی عناصر داسرائیلو مرستی اوملاتړ ته په ټینګه ولاړ دی تر څوپه سیمه کی اسرائیل دیونه ماتیدونکی ځواك په بڼه راڅرګند کړی.

په دی ستونزورو حالاتو او حساس وخت کی اسلامی امت دازمینښت پر دګر ولاړ دی څکه داسلام پر ضدګرد طاغوتی عناصر یو موټی شوی دی اومسلمانان یو وار بیا دخپلی لومړی قبلی دازادولو لپاره صلاح الدین ایوبی او دنورو طاغوتیانو دټکولو لپاره محمودغزنوی او احمدشاه ابدالی ته اړتیالری

په دی حساس وخت کی باید دنړی ټول مسلمانان خپل منځی اختلافات شاته وغورځوی او دکفر په مقابل کی یو سنګر تو داو پیاوړی کړی چی دهمدی لاری څخه دکفری ځواکونو ناوړه عزائم پلانونه او سازشونه شنډولی اوله منځه وړلای شی.

# دروسیی یرغل ددیارلسمی کلیزی دغندنی په اړه

پیښور، دجهاد هنداری خبریال:

د ۱۳۷۰ کال دجدی ٦ مه نیټه زموږ پر ګران هیواد باندی دروسی سرو یرغلګرو دبی شرمانه تیری ددیارلسمی کلیزی سره برابره وه چی زموږ دمجاهدو او مهاجرو ورونو له خوا دهجرت په بیلابیلو سیمو کی ددرنو غونډو په ترڅ کی وغندل شوه.

زموږ خبریال رپوټ ورکوی چی په هغه غونډه کی چی په همدی مناسبت دپیښور ښار دځمکنیو په سیمه کی دافغانستان داسلامی جمعیت له خوا جوړه شوی وه، دجمعیت اسلامی مشر استاد برهان الدین ربانی اویو شمیر نورو علماوو او مشرانو وینا وی وکړی، دروسانو دبی شرمانه تیری پر غندنه سربیره یی دروانو سیاسی او جهادی حالاتو په هکله توضیحات ورکړی.

په همدی توګه په یوه بله لویه غونډه کی چی دپیښور دشمشتو په کمپ کی دحزب اسلامی ترمشری لاندی جوړه شوی وه اویو زیات شمیر مجاهدینو، مهاجرینو او علماوو پکی ګډون درلود دحزب اسلامی مشر انجنیر حکمتیار اودحزب اسلامی نورو مسولینو وینا وی وکړی اودروسانو دتیری پر غندنی سربیره یی دروانو سیاسی حالاتو په هکله خپل نظرونه څرګند کړل.

همدارنګه دجهاد هنداری خبریال رپوټ ورکوی چی دروسانو دتیری دکلیزی دغندنی په مناسبت په میرامشاه کی دهیواد دجنوبی جبهاتو اتل قوماندان دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی ترقیادت لاندی یوه شانداره غونډه جوړه شوی وه چی په هغی سربیره پر الحاج حقانی یو شمیر نورو انصارو او مهاجرو علماوو هم خبری وکړی.

دیوه بل رپوټ له مخی دروسانو دیرغل کلیزی دغندنی په اړه دمولوی نصرالله منصور ترمشری لاندی دحرکت انقلاب اسلامی دتنظیم له خوا هم په حیات اباد کی یوه غونډه جوړه شوی وه چی په هغی کی مولوی نصرالله منصور او نورو مسولینو وینا وی وکړی

په ۵ ۳ ځ

# درزندان هاي هند...

وجسمی بیشتر انها میگردد، اکثر این زندانیان که با سواد اند اجازه خواندن ونوشتن راندارند وحتی دربعضی زندانهای درعوض اب برای زندانیان مسلمان پیشاب داده میشود که برای هرکس ناقابل برداشت است وادای نماز بکلی ناممکن قرارداده شده است.

دراثر این زجر ها وشکنجه ها بیماری های گوناگونی

عائد حال زندانیان مسلمان شده است، مطابق قانون هند برای زندانیان سهولیت طبی مهیا است اما این قانون بالای کشمیری ها تطبیق نمی شود.

اکنون در زندانهای هند وکشمیر اشغالی اشخاصی زیادی بایك عده از رهبران یازده تنظیم متحد بنام (جنبش ازادی خواه کشمیر) از ازادی خود محروم ودرقید زندگی بسر میبرند سیدعلی کیلانی رهبر جنبش ازادی خواه کشمیر ومیاه عبدالقیوم منشی عمومی اشرف صحرایی و شیر شاه از جمله اشخاص بلند رتبه تنظیم مذکور دراین زندانها درظلم وشکنجه زندگی می نمایند.

نظامیان هندی به حد سید علی کیلانی رالت وکوب نموده اند که تا حال از دندانهای وی مسلسل خون میریزد.

رادیو بی، بی، سی گفته است وی که ۵۳ سال دارد دراثر زجر وشکنجه بینایی چشم راستش راهم از دست داده است.

سید علی رانیروهای هندی درماه می گذشته ازبندی خانه هرانګر به بندی خانه مرکزی جامو انتقال داده اند.

دراین زندانهای جهنمی داغ نمودن بدن با اتوی گرم ودادن تکان برق واویزان نمودن مجاهدین از پاها ازجمله شکنجه های عادی بشمار میرود وحتی بخاطر گرفتن معلومات بیشتر گروها های تحقیق هندی انها را چندین شب به بیدار خوابی مجبور می سازند، ناخن های شانرا میکشند وانهارا روزها گرسنه نگاه میدارند، وبالاخره این زندانیان به شهادت میرسند.

تاکنون دراثر زجر وشکنجه های بی رحمانه هیئات تحقیق هندی بیشتر از یك هزار مجاهد دراین زندانهابه شهادت رسیده واجساد شان درشاهراه های عمومی انداخته شده است وتعداد زیاد دیگر به امراض گوناگون ازقبیل بواسیرخونی و... مبتلا شده اند.

اما تا الحال مردم عامه کشمیر از حالت زندانیان مجاهد به طور کلی واقف نیستند ونمیدانند ایشان در کدام حالت زیست می نمایند، درسال ۱۹۹۰ که نو هیئات مختلف ازطرف انجمن کشمیر از زندانیان دیدن نموده بودند حالت زندانیان را بسیار بد ووخیم دانسته وغیر قابل بیان پنداشتند.

# روسي بنديان اود...

تینګار وکړ اوخپله زړه سندره یی بیاتکرار کړه چی باید دافغانستان قضیه دملګرو ملتو دسازمان دطرحی او مسکو واشنګتن دتړون له لاری حل شی.

دروتسکوی دغه منافقانه دریځونو اوبومخیز مخبرو دمجاهدینو په امیدونو بیا دپاس سری اوبه تویی کړی او داخبره یی په ډاګه کړه چی دفدرالی روسیی واکمن ځان چی دپخوانی شوروی امپراطوری اصلی وارثان بولی، هیڅ کله هم دافغانستان دکشالی داسی حل نه غواړی چی دمجاهدینو په ګټه وی.

ددی خبرو داهم په ډاګه شوه چی اسلام اباد ته دروتسکوی دراتللو یو هدف دخپلو جنګی بندیانو خوشی کول اودهغی په واسطه په خپل هیواد کی دیوه سیاسی بریالیتوب ترلاسه کول وو.

پدی لړ کی تاسف اورده خبره زموږ دهغه محترمو جهادی تنظیمونو هغه ابتکار !! دی چی تر پرونه یی د ۴۰۰۰۰ افغانانو دمرګ او ژوند معلومول غوښتل، خو نن پرته له دی چی اقلاً ددی روسی پوځیانو په واسطه دځو مجاهدو زندانیانو دخوشی کیدو غوښتنه وکړی، هغه یی دروتسکوی سره دملاقات په خوشحالی !! وریاخوشی کړل.

روسی واکمن په خپل

استعماری او منافقانه سیاست سره غواړی دځو تنو محدودو روسی اسیرانو موضوع په نړیوالو اذهانو کی دیوی انسانی او خیرخواهانه قضیی په ډول په مطرح کولو سره ځان ته دمظلومیت کریدت واخلی، خونړیوال به هیڅ کله هیر نکړی چی دغه څو تنه عسکر دهغه وحشی اویرغلګر لښکر افراد وو، چی زموږ پر هیواد یی دهرډول قانونی او انسانی جواز پرته برید کړی وو، اوزموږ دبی شمیره هیوادوالو پروژلو سربیره یی زموږ کور او کلی په کنډوالو بدل کړل.

دادهغه لښکر یوه برخه وه چی دهغوی ترقوماندی لاندی دمزدورو عناصرو په لاس دنیول شویو زموږ د ۴۰۰۰۰ هیوادوالو دمرګ اوژوند سرنوشت تراوسه هم ندی معلوم! نن پدی شرایطو کی چی لادروسی وسلو په واسطه هره ورځ زموږ په لس ګونو هیوادوال مړه کیږی اوپه لس ګونو نور ټپیان کیږی، پداسی حال کی چی زموږ مظلوم ملت لاتراوسه د ۱۳ کلنی تپل شوی جګړی په اورسوزی، که ځینی دوستان یو شمیر روسی اسیران دهر ډول قید اوشرط څخه پرته خوشی کوی، دادی په یاد ولری چی سبا به ددی مظلوم ملت د ۱۴ کلن جهاد دویاړلیو شهیدانو، اودرژیم په زندانونو کی دپرتو زرګونو بندیانو دوارثانو لاس ددوی ګریوان ته رسیږی، اودوی به ددی ځواب ورکوی !!

## دروسیي امپراطوري دزوال او ړنګیدو اصلي عامل زموږ جهاد اوپاڅون

زموږ ګران هیواد افغانستان هم داسیا په زړه کې دخپل حساس جغرافیوي موقعیت اوتاریخي حیثیت په لرلو سره په بیلوبیلووختونو کې دبهرنیو متجاوزینو تروحشیانه تیریو لاندې راغلی دی .
له سکندر څخه رانیولې بیا تر چنګیز اوانګریز اوروسانو پورې یرغلګرو ښکیلاکي ځواکونو پرې په بیلوبیلووختونو کې له بیلابیلو لارو یرغلونه کړي دیو مخیزې وژنې اودافغانانو له سرونو څخه دڅلو( لکه منارونو ) پرجوړولو برسیره یې دوی په هر ډول مادي او معنوي شتمنی لوټ او تالان ګړ کړې دي خودافغانستان مسلمان او قهرمان ملت چې هیڅ زورګیر، یرغلګر اوښکیلاکي ځواک ته یې دتسلیمي سرنه دې ټیټ کړې دخپل ایمان قوت اوپخې عقیدې په کارنده وسله یې دهر دښمن او تیرې کوونکي سره مقابله اومبارزه کړې او تر هغې چې یې دخپلې عقیدې او پلرنۍ ټاټوبي دښمن ته ماته نه ده ورکړې ارام نه دی ناست .
اوس ټول داخبره مني چې افغانستان لومړنی هیواد اوافغانان لومړني وګړي وو چې دانګریزانو دښکیلاکي سلطې ځنځیرونه یې وشلول اودخپلواکي اعلان یې وکړ ، تردې دمخه دنړې په بله سیمه کې چا حتی ددغه ښکیلاکي ځواک دماتي خبرهم نه و اوریدلې ، اوچې دلته یې پخپل ټول ځواک دیو کمزوري خودایمان عقیدې ، ننګ اوغیرت په وسله سمبال ملت له لاسه ماتې وخوړه بیا یې پښې راټینګې نه شوې اوله همدغه ځایه یې ( ددوی په اصطلاح ) دهغې دلویې ښکیلاکي امپراطورۍ تجزیه او زوال پیل شو چې لمر به په کې نه پریوده .
که دروانې عیسوي پیړۍ دنویمې لسیزې په وروستیو کې یې دانګریزي ښکیلاك دماتې اودوی له پاڅون او مقاومت نه دنورو ښکیل اولسونو او ملیتونو دالهام اخیستنې ویاړ ورپه برخه و نن یې دلوی خدای (ج) په مرسته اودخپلو بیدریغه مالي او ځاني قربانیو په برکت یو بلې ښکیلاکي امپراطورۍ روس دماتې اوړنګیدو ویاړ هم وګاټه دنړې په ښکیلاکي ځواکونو کې یو هم روس وچې تر نورو په وحشت وینې تویولو اولوټماري کې دمخه ؤ دبشریت دځپلو ، کوټلواو ښکیلولو لپاره یې له ډول ډول وسلو او وسیلو څخه کار اخیست ، که له یوې خوایې خپل زور اووحشت په کاراچوه ، بل خوایې دزور اورشوت له لارې مخ په وړاندې تګ کاوه ، تر څنګ به یې په خلکو کې دخپلې جاسوسي جالونه او دامونه غوړول اودضرورت په وخت کې په زاریو اوننواتو هم نه شرمیده په خلکو کې په تفرقه اچولو اوسره بیلولو کې پوره ماهر و او په تزویر اوتیر ایستنه کې یې هم ساری نه لیدل کیده .
زموږ پر هیواد باندې دروسانو دبلوسیدنې شوم پلان ډیر پخوانې او هماغه له پطر کبیر نه ورته په میراث پاتې دی چې له هماغه وخته بیا تر مستقیم اوبرېنډ تیرې پورې یې بیلابیلې بڼې غوره کړې چې پر ټول پس منظر دڅه ویلو اړتیا نه لیدل کیږي .
روسانو چې دمرکزي اسیا اسلامي هیوادونه یو په بل پسې نیولي او ځان یې زموږ دهیواد تر پولو رارسولی او دګاونډیتوب دعوه یې کوله ، خپل شوم هدف ته درسیدو په هیله په ډیر مهارت قدم په قدم رانږدې کیده ، ترڅو چې لومړې یې خپل لاسپوڅي چې دهمدې لپاره یې روزلې و دمستقیم حمایت اوملاتړ په سیوري کې دقدرت پر ګدۍ کښینول اوچې په مقابل کې دمومنو افغانانو پاڅون له یوې ورځې نه بلې ته پیاوړی ، ځواکمن او دورووستې برې په درشل کې شو ، دټولو نړیوالو اوصولو او موازینو خلاف یې مستقیماً خپل پوځونه زموږ پر هیواد رامارش کړل ، چې په وړاندې یې دمومنو مقاومت نور هم کرورلې اولاپسې زیات شو ، څه دپاسه نهه کلونه یې له مومنو افغانانو سره په مخامخ جګړه کې خپل زوروازمایه خو هیڅ ډول وسلې او وسیلې خپل شوم هدف ته درسیدو په لار کې ددوی برې تضمین نکړای شو ، بالاخره لاس ماتې سرماتې اوپښې ماتې زموږ لهخاورې څخه ووتل ، اوپه نظامي ، سیاسي او ... ډګرونو کې یې داسې ماتې وخوړه چې بیا هیڅ ډول دیپلوماتیکو هلو ځلو هغه نویښ بشري ذهنیت نه پټه نکړای شوه .
پرافغانستان باندې دروسانو دیرغل پروخت چې په مومنو افغانانو ویل چې افغانستان به دکمونیزم او سره ښکیلاك هدیره شي اولکه چې دانګریزي ښکیلاك دماتې پیلامه له افغانستان نه وشوه ، دغسې به دروسي ښکیلاك دزوال سبب هم دافغانانو جهاد اومقابله شي هغه وخت داخلکو ته هسې احساساتي اوجذباتي خبرې ښکاریدې ، خوبوخت په تیریدو او دحالاتو په لیدو داخبرې ریښتینې ثابتې شوې او ټولو ولیدل چې له یوې خوا په افغانستان کې شرمیدلې ماتې روسان بې ځواکه او په نظم او اداره کې یې له یوې ورځې نه بلې ته بې واکه کړل اوله بلې خوا دافغانانو پاڅون ددوی تر استعماري سلطې لاندې اسلامي اوغیر اسلامي هیوادونو کې ازادۍ جذبه او احساس راژوندی کړ ، اوبالاخره هغه ورځ هم راورسیدله چې دواړه المانونه سره یوشول اوبیا پولیند ، چکوسلواکیا اویوګوسلاویا کې کمونستي روس پلوي رژیمونه رنګ دبالتیك درې هیوادونو او ورپسې دمنځني اسیا اسلامي جمهوریتو او نورو یو په بل پسې دخپلواکي اعلان وکړ ، هغه شیبې هم راغلې چې دروسیي کمونست ګوند منحل ، کې ، جي ، بي جاسوسي دستګاه ړنګه ، اودشوروي اتحاد نوم دنړې له سیاسي نقشې څخه لیرې کړای شو او ...
دروسیي ټوټه کیدلو اودې حالت ته رسیدل ښایي هرچاته دخپل طرز فکر نړې لیدل اویوه اوبل ملحوظ له مخې بیل بیل عوامل ولرې خو ددې نه هیڅوك انکار نه شي کولی چې روس لومړی په افغانستان کې نظامي شرمیدلې ماتې خوړلې اوسیاسي اواقتصادي ډګر اوپې ځواکې یې ټولو ته په ګوته شوې ، اوبیا دحالاتو په په بهیر کې له اوسنۍ حالت سره مخامخ شوه نورکه یې زوال لپاره هرڅه عامل ښیي موږ یې دخپل جهاد پاڅون اوبیدریغه قربانیو له برکته ګڼو ، اوهمدغه یې دزوال اصلي عامل بولو .

## دمولانا فیضاني دزنداني کیدو نولسمه کلیزه ولمانځل شوه

دهیواد دعلمي اومذهبي شخصیت مولانا محمد عطاالله فیضاني دزنداني کیدو نولسمه کلیزه دیوې ستړې غونډې په ترڅ کې په پیښور کې ولمانځل شوه .
مولانا فیضاني چې نولس کاله مخکې دداود خان دړژیم له خوا داسلامي مبارزې له امله زنداني کړې شوې دی دهیواد له هغو علمي اومبارزو شخصیتونو څخه دی چې داسلامي دعوت اوفکري روزنې په لار کې مې په لسګونو اثار لیکلي چې یوه برخه یې خپره شوې هم ده ، مولانا فیضاني دظاهرشاه دفاسد سلطنت په دوران کې دیوه ډیر غني کتابتون بنسټ کیښود ، اودمازدیګر له لمانځه وروسته تر ماښامه به یې هره ورځ له تفسیر درس اوپه اسلامي مسایلو کې دګډون کوونکو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل .
مولانا فیضاني دهیواد دپیاوړي لیکوال اوڅارخطیب اومبلغ په توګه داسلامي مبارزې په ډګر کې دقدر وړ او ارځښتناك خدمتونه ترسره کړیدي .
په هغه غونډه کې چې تیره اونۍ دمولانا صاحب دعلمي او فرهنګي خدمتونو دیادونې اودهغې دزنداني کیدو دنولسمې کلیزې دلمانځنې له امله جوړه شوې وه ګڼ شمیر لیکوالو پوهانو دیني علماوو اومهاجرینو برخه اخیستې وه وینا کوونکو دمولانا صاحب په علمي او روحاني شخصیت په اړخبرې وکړې چې دبرخه والوله خوا یې ډیر په زړه پورې هر کلی کیده .
په دغه غونډه دمولانا صاحب زوی باقي بالله مذهبي پخپله عالمانه اوانقلابي وینا کې دمولانا صاحب په ژوند ، مبارزه اوعلمي جد اوجهاد خبرې وکړې اودمولانا صاحب دمبارزې په میتود کرښو یې رڼاواچوله .
دغونډې په پای کې په ۸ مادو کې یو پریکړه لیك هم صادر شو چې له جهادي قیادتونو څخه یې غوښتنه شوې وه چې دروس اومجاهدینو تر منځ دروسي اسیرانو په باب دخبرو اترو په رابطه مولانا فیضاني اونورهغه علمي شخصیتونه اوافغانان له یاده ونه باسي چې ددښمن په زندانونو کې ژوند تیروي .
همدارنګه په غونډه کې غوښتنه وشوه چې دهیواد دعلمي شخصیتونو ، افکارو اواثارو خپراوي ته پاملرنه وشي اوددغه وړ علمي او روحاني شخصیتونو دکارنامو یادونې اولمانځې په هکله لازم اقدامات ترسره شي .

## دروس دیرغل کلیزه په میرامشاه کې وغندل شوه

میرامشاه ، دجهاد هنداری خبریال :
دمیرامشاه څخه زموږ استول شوي خبریال رپوټ راکوي چې دجدي شپږمه پرافغانستان باندې دروسانو دبې شرمانه اوظالمانه تیرې دولسمه کلیزه دهفتې په ورځ دجدي په اوومه په دغه ځاې کې دهیواد دجنوبي جبهاتو دقوماندانې ددفترله خوا دیوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې وغندل شوه.
خبریال زیاتوي په دغه غونډه کې چې دزرګونو مهاجرواوانصاروپه ګډون جوړه شوې وه ، دجنوبي محاذونو اتل قوماندان الحاج مولانا جلال الدین حقاني اویو شمیر نورو انصارو او مجاهدوعلماوواومشرانو عالمانه ویناوي وکړې ، اودخپلو ویناوو په ترڅ کې یې زموږ پرخاوره دروس یرغل پرغندنې سربیره دهیواد دروانو سیاسي حالاتو په هکله خپل نظریات څرګند کړل ، غونډې ته دانصارو علماوو له ډلې نه مولانا حبیب الرحمن او مولانا وارث خان ویناوې وکړې چې دحاضرینو له خوا په تودو احساساتو بدرګه شول .
خبریال لیکي چې دغونډې په پای کې ګډون کوونکو دمیرامشاه په بازار کې یوه احتجاجي مظاهره هم لاس پورې کړ مظاهره کوونکو دنجیب اوګورباچوف لوې مجسمې له ځان سره وړلې غونډې ته به دالحاج حقاني لوینا متن دجهاد هنداری په راتلونکې ګڼه کې انشاالله ولولی .

## پر استاد سیاف قاتلانه حمله

پیښور البنیان خبري آژانس دتیرې چهارشنبې په ورځ دجدي په ٤ مه نیټه دپیښور د جمرود روډ دباب خیبر په سیمه کې دنامعلومو کسانو دډزو په اثر چې په غالب ګومان داتحاد اسلامي افغانستان دمشر استاد سیاف دوژلو ناوړه قصد درلود دننګرهار ولایت دجهادي سنګرونو دوه نامتو قوماندانانو حفیظ الحق او عظیم الله عظیمي په شمول ٤ تنه په شهادت ورسیدل اودسازنور په نامه یو بل قوماندان سخت ټپي شو ، دغه قوماندانان په ننګرهار کې دیوې جهادي شورا په جلسه کې تر ګډون وروسته پیښور ته راتلل چې دمازدیګر دپنځو بجو په شاوخوا کې دنامعلومو تروریستانو له خوا چې شمیر یې دپنځلسو تنو په شاوخوا کې سنودل شوی ددوی دسورلې پرموټر دراکټ او کلاشینکوف ډزې وشوې.
رپوټ وایي چې داستاد سیاف دسورلې موټرتردې واقعې لس دقیقې وړاندې په همدې لارتیرشوی وو.
ددغه شهیدانو جنازې دپنجشنبې په ورځ ۱۳۷۰/۱۰/۵ دهجرت کلې په هدیره کې پداسې حال کې خاورو ته وسپارل شوې چې په زرګونو مجاهدینو او مهاجرینو سربیره داتحاد اسلامي افغانستان امیر استاد سیاف ، دحزب اسلامي مشر مولوي صاحب محمد یونس «خالص » دحزب اسلامي دبلې ډلې مشر انجینر حکمتیار اودداعیه اتحاد مشر قاضي محمد امین وقاد هم پکې ګډون درلود .
دالبنیان خبرې اژانس زیاتوي استاد سیاف ددې حملې تور په امریکا لګولی اوویلي دي چې ددې ډول حملو څخه هدف دادی چې موږ دخپل اسلامي دریځ او موقف څخه په شاتګ ته اړ کړي .

## دسرې امپراطورۍ سقوط اودبوش ...

څخه به پخواله دې چې( ګورباچوف) خبر شي دامریکا متحده ایالاتو رهبري خبره وه اوهم داچې له روسیې څخه د اوکراین جدا کیدل یې دامریکا او یلتسین دګډو هڅو نتیجه وبلله .
اوس چې دامریکا متحده ایالاتو ستر حریف یعنې دروسانو کمونستي امپراطورۍ سقوط وکړاودامریکا متحده ایالاتو په مقابل کې تر ټولو محکم مورچل دړې وړې شو اودامریکا متحده ایالات په نړۍ کې دیوازینۍ ابر ځواك په توګه رامنځ ته شول نو ځکه یې دنوي نړیوال نظم په نوم په نړۍ کې ددوی په ګټه دلویو بدلونونو لړۍ پیل کړه، دغه حالت اوشرایط یعنې دامریکا متحده ایالات دیوازینۍ ابر ځواك په توګه که له یوې خوا په نړۍ کې دهیوادونو تر منځ دلانجو اوشخړو مخ نیوې کوې نو دبلې خوادهغو هیوادونو خپلواکۍ ته زیان رسوي کوم چې دروس اوامریکا ددوواړو ابر ځواکونو دکشش متضادې قوې ترمنځ یې خپلواك ژوند کاوه
خو سره ددې ټولو شرایطو چې دامریکا متحده ایالاتو دارمانونو اوپلانونو دعملي کولو لپاره په زړه پورې دي بیا هم لاتراوسه امریکا دخپلو اهدافو دتر لاسه کولو په بهیر کې دیو شمیر ورو او غټو مشکلاتو سره لاس په ګریوان دی.
دیوې خوا چین چې په نړۍ کې پنځم اتومي قدرت ګڼل کیږي اونولت یې دکمونستي ایډیا لوژۍ پیرو دی اوترخپله وسه دامریکا او په مجموع کې دغرب داهدافو په مقابل لورې کې قرار لري اودبلې خوا اسلامي او نشنلستي ځواکونه یې دسر درد ورزیاتوي.په دې ډول سره دبوش په واسطه دنوي نړیوال نظم عملي کیدل دیو شمیر پرابلمونو او مشکلاتو څخه خالي نه دی .
ددغو ټولو نړیوالو بدلونونو اوحوادثو څخه دافغانستان مسئلې حل هم ګوښې نه شو څیړلی .
په داسې حال کې چې دروسانو په خپل وجود داورلبې ګرځې اونښې یې مړې کولای نوپه افغانستان کې ددوی په واسطه دلګیدلې اورپه خاموشولو کې یې هم هغه وس چې درلود له لاسه ورکړې اودغې دردناکې مسئلې دبوش نوې نړیوال نظم هم دازموینې سره مخامخ کړې .
په اوسینو حالاتو کې داسې څرګندیږي چې دافغانستان د مسئلې دحل اویا ناحل کیدو په اړوند په بهرنی سویه دامریکا متحده ایالاتو ته ټاکونکې رول ورپه برخه شوی او نور یې دافغانستاند مسلې په اړه دروسانو له خطر څخه نجات موندلی خو هغه قواوې چې دامریکا متحده ایالاتو ددریځ اوتګ لارې په مقابل کې دافغانستان مسئلې دحل په رابطه په حال او راتلونکې کې ستونځې رامنځ ته کولای شي دهغې جملې څخه دافغانستان ختیځې خواته دکمونستي چین موجودیت اوپه افغانستان کې دهغوی یو شمیر طرفداران، غرب ته یې ایران اوپه افغانستان کې دهغوی پلویان ، اسلامي بنیاد ګرځواکونه ، نشنلستي قواوې اودافغانستان دبیاودانولو مشکل دیادولو وړدي .
نوپه نړۍ کې که یو ابرځواك وي اوکه دوه اویا شل خودافغانستان مسلمان اوننګیالي ولس په خدای (ج) باندې په اتکا اودخپلو مسلمانو او مجاهدو پرګنو په یووالي اوسربښندنې سره به داسلامي او خپلواك دولت دجوړولو لپاره په نه ستړې کیدونکې اوتوامدارډول سره جهاد او مجادله وکړي .

# دهیواد په تودو مورچلو کی

## پروان :

دقوماندانانو شوری نظامی دفتررپوټ ورکوی چی دپروان ولایت مجاهدینو دجدی په لومړی نیټه دکابل رژیم پر هغه پوځی قطاربرید وکړکوم چی دروسیی سرحد ته نژد ی دحیرتانو دبندر څخه کابل ته راروان وو ، رپوټ وایی ددغه برید په نتیجه کی چی دنوموړی ولایت دجنګل باغ په سیمه کی ترسره شو مجاهدینو درژیم دوه زرهدارټانکونه ، دوه عرادی په مهماتو بار لاری اودوه دتیلو ټانکر سوځولی دی ، پدی برید کی مجاهدینو یو دافع هوا ، ۹ میله کلاشینکوفونه په غنیمت نیولی اودښمن څو تنه عسکراو صاحب منصب یی اسیران کړی دی .

خبر ځای دهمدی ولایت څخه په یوه بل رپوټ کی زیاتوی چی مجاهدینو دسالنګ لویه او استراتیژیکه لار دجنګل باغ په سیمه کی درژیم دکاروانونو پرمخ بنده کړی اودرژیم پرقطارونو دمجاهدینو بریدونه دوام لری .

## سمنګان :

میدیا دسمنګان ولایت دجهادی منابعو په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو ددی ولایت دخلم ولسوالی په لویدیزه دری کیلو متری کی دخلم- مزارشریف په لویه لاره ددښمن پرپوستو برید وکړ چی په نتیجه کی درژیم یوه پوسته فتحه ، اودپوستی قوماندان اویوشمیر افراد یی وژلی دی .

مجاهدینو پدی جګړه کی یو میل راکټ ، یو میل پی کا ماشیندار یوه پایه ده اره ۱۰ دمخابری دستګا، ، دیوی اندازای مهماتو اولوژستیکی موادو سره ولجه کړی .

## هرات :

په کویټه کی دمیدیا نمایندګی دهرات ولایت څخه دقوماندان اسماعیل خان په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو درژیم دقواوو هغه حمله چی دادرسکن له ولسوالی څخه یی دزنده جان ولسوالی دبیانیولو په خاطر کړی وه ، په شاه تمبولی اودښمن ته یی درانده ځانی او مالی تاوانونه اړولی دی .

پدی جګړه کی درژیم دملیشه وو څخه تر ۲۵ زیات افراد له منځه تللی اویو شمیر نور هم ټپیان شوی دی .

مجاهدینو ۱۵ میله کلاشینکوفونه ، څلور میله پی ، کا ماشینداری دوه میله آرپی جی هفت راکټونه اویو مقدار نظامی مهمات په غنیمت نیولی دی .

خبر ځای دهمدی ولایت نه په یوه بل رپوټ کی وایی چی دزنده جان ولسوالی په لویدیزه برخه کی دمجاهدینو له خوا دځای پر ځای شوی ماین دچاودنی له امله درژیم دقواوو یوه عراده ټانک دسپرلیو سره له منځه تللی دی .

## کندهار :

دکندهار څخه په کویټه کی دمیدیا نمایندګی ته رپوټ رسیدلی چی ددی ولایت دهوایی ډګر دقواوو یوه ستراتیژیکه پوسته چی یو صاحب منصب او ۹ تنه عسکرپکی وو دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی رپوټ وایی ددی عسکرو ۸ میله کلاشینکوفونه ، یو پایه هاوان توپ ، یومیل پی کا ماشیندار ، یو میل ارپی ، جی اوه راکټ یوه پایه مخابره اویو مقدار مهمات له ځان سره مجاهدینو ته تسلیم کړی .

همدارنګه میدیا دهمدی ولایت څخه په بل رپوټ کی وایی چی مجاهدینو دکندهار ښار دشکارپور دروازی په سیمه کی یوه پوسته فتح کړی، ددښمن څو تنه صاحب منصب یی وژلی دری میله کلاشینکوف اویو مقدار مهمات یی ولجه کړی .

## کابل :

میدیا بقول منابع مجاهدین در اطراف کابل گذارش می دهد که ملیشه های رژیم مزدور به قطع اشجارباغات قرا وقصبات ولسوالی بگرامی درجنوب شرق کابل بخصوص درعلاقداری خاك جبار وخورد کابل تاهنوز ادامه میدهند

خبر حاکیست ازطریق این چوروچپاول اشجار که تحت نظر برید جنرال محمد اکبر احمدزی قوماندان عمومی گارنیزیون کابل صورت میگیرد تاکنون حدود ۵۰۰ لاری چوب تهیه وبه کابل انتقال یافته است.

راپور می افزاید ملیشه های رژیم به این هم بسنده نشده منازل مسکونی رادرمناطق مذکور نیز تخریب ، چوب ، دروازه ها وسایرچوب های کارشده درساختمان ها رابه کابل انتقال می دهند.

# موفقیت بی نظیر جنبش اسلامی درانتخابات الجزایر

الجزیره ، آژانس رویتر:

دراولین انتخابات ازاد الجزایر بعد از ازادی ان کشور سازمان اسلامی بنام جبهه نجات اسلامی الجزایر اکثریت مطلق رابدست اورده و ۱٦۷ کرسی از جمله ۲۰٦ کرسی اعلان شده رابرای خود اختصاص داده اند .

به اساس گذارش اژانس های خبری جهان ازجمله ٤۳۰ کرسی پارلمان الجزایر تاحال نتایج ۲۲٤ کرسی ان اعلان نگردیده که امکان می رود جبهه نجات اسلامی ٤٤ کرسی دیگر رانیز بدست بیاورد وبه ین ترتیب بتواند به تنهایی حکومت اینده راتشکیل دهد .

جریان انتخابات درعده از حلقه های انتخاباتی به دور دوم موکول شده ، درجریان مرحله اول حزب برسر اقتدار جبهه ملی الجزایر ۱٦ کرسی وجبهه سوسیالیست الجزایر ۲۰ کرسی رابدست اورده اند .

راپورهای رسیده حاکیست که بعد از اعلان نتایج انتخابات اعضای جبهه نجات اسلامی الجزایر در دامنه کوهی جمع شده وصداهای پرجوش الله اکبر سراسر کوه وصحرا رافرا گرفت .

# په هند کی سرکال دلوږی له لاسه ۱۸۰ تنه مړه شوی

نوی ډهلی ، دجدی ۷ مه :

دخپریو شویو خبرونوله مخی دهند مخالفو ګوندونو اوخیریه موسسو په هندی واکمنانو تورلګولی چی سرکال په هند کی ۱۸۰ تنه دلوږی له امله مړه شوی اوزیات شمیر دناوړه غذا دخوراك له امله په سختو ناروغیو اخته شوی دی دوی زیاته کړی چی یوازی په مشرقی هند کی دوچکالی له امله سرکال سل کسه مړه شوی اوپه جنوبی هند کی هم ۸۰ تنه مړه شوی دی دوی په حکومت داتور هم لګولی چی په دیرو سیمو کی خلکو دلوږی له امله دموږکانو په خوراك لاس پوری کړی چی دغه کار په خلکو کی تشویشناك مرضونه راپیدا کړی دی بلی خواته دولتی مامورین ددوی دغه تورونه ردوی اووایی چی دغه خلك دناروغی له امله مړه شوی دی .

# په هندی پنجاب کی په یوه ریل ګاډی دسکانو حمله

امرتسر ، دجدی ۷مه :

دهند دپنجاب په ایالت کی بیلتون غوښتونکو سکانو دامرتسر په ښار کی په یوه مسافر وړونکی ریل ګاډی برید وکړ چی په نتیجه کی ٦۲ هندوان مړه او ۷۰ تنه نور یی ټپیان کړل .

دلدیانه دښار ډاکترانو څبرته چی دغه پیښه شوی ویلی دی چی دټپیانو څخه دزیات شمیر خلکو حالت نازك دی .

په رپوټ کی ویل شوی چی پدی ریل ګاډی کی دامرتسر څخه ۱۲۵ کیلو متره لری حمله وشوه دبرید په ترڅ کی یو شمیر مسافرله ګاډی څخه ښکته اوپه کښت کی یی پناه واخیسته خو برید کوونکو هلته هم پری ښنودل اودکلاشینکوف او نورو مدرنو وسلو په ذریعه یی قتل عام کړل .

دهند یوه خبری اژانس ویلی دی چی مړه شوی کسان ټول هندوان وو اوله ډیری نژدی فاصلی څخه په مرمیو ویشتل شوی وو.

# افغانی مجاهدینو دری نور روسی بندیان خوشی کړل

دمیدیا خبریال داسلام اباد څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دری روسی بندیان خوشی کړی دی .

محمد ناصر دمحمدقل زوی او رستم بیګ دراشم بیګ زوی دیو بل تن په شمول چی دازبکستان دجمهوریت اولیننګراد اوسیدونکی وو اته کاله پخوا په افغانستان باندی دپوځی یرغل په نتیجه کی دکابل ولایت دشکردری اوچهاردهی په دوه ولسوالیو کی دمجاهدینو لخوا بندیان نیول شوی وودغه روسی بندیان دمسکو دتیری میاشتی دمعاهدی په اساس دجدی په ٤ مه نیټه دجمعیت اسلامی دمشر استاد برهان الدین ربانی په مشری داسلام اباد دهالیدی ان په هوټل کی دیو مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی ازاد شول .

رپوټ وایی استاد برهان الدین ربانی ذکر شوی دری بندیان دخارجی خبریالانو په حضور دروسی کامنولټ اتحادیی واکدارانو ته تسلیم کړی اودروسی داوسنی کامنولټ مشرانو باندی یی غږ کړی چی دپخوانی شوروی مشرانو په شان دبدی رویی څخه کار وانخلی چی ۷۰ کاله یی نړیوالو ته دروغ وویل اوپه نتیجه کی نننی سرنوشت سره مخامخ شول .

# دورکی اعلان

"اباسین" دذکریا ملاتړ" زوی چی شپږکاله عمر لری په رنګ غنم رنګه ، اسمانی رنګه جامی ، خړ واسکټ یی په تن دی ، دتیری جمعی په ورځ دجدی په ٦ مه دپیښور په نوتهیه کی له خپل کوره بی درکه شوی که چاته دهغه په هکله څه معلومات وی مهربانی دی وکړی پدی پته دی خبر ورکړی .

پیښور ښار - نوتهیه دمسکین اباد جومات اویا دی پدی تلیفون تماس ونیسی : ٤٤٦۳٦

# په تیره میاشت کی (۱۰۸۰) عرادی لاری دمزارشریف هوایی ډګر ته رسیدلی دی

کابل ، میدیا :

په پیښور کی دمجاهدینو یو خبرځای دمزارشریف څخه رپوټ ورکړی چی دقوس لومړی نیټی څخه دجدی تر لومړی نیټی پوری دتاجکستان دجمهوریت له پولی څخه دحیرتان بندر له لاری ۱۰۸۰ عرادی په مهماتو بار موټر دمزارشریف نظامی هوایی ډګر ته راوړل شوی دی چی په دغه مهماتو غټ بمونه دسکاد توغندی او نور ډول ډول توغندی اوسلی شاملی دی .

خبر ځای زیاتوی چی په تیرو ورځو کی دمزارشریف هوایی ډګر څخه یو تعداد افغانی پیلوټان منحل شوی شوروی اتحاد ته په دی خاطر لیږدول شوی چی کابل رژیم ته په وروستیو ورځو کی نوی ورکړی جنګی جیټ الوتکی راانتقال کړی .

دخبر ځای په قول دغه پیلوټان چی ورسره یو شمیر دالوتکو انجینران او نور پرسونل هم ملګری وو یوه اونی مخکی دکندهار ولایت هوایی ډګرڅخه مزارشریف ته دتلو په حال کی لیدل شوی دی.

خبر ځای دغه راز زیاتوی چی په شمالی ولایاتو کی دبدنامو ملیشه و قوماندان رشید دوستم ته دمجاهدینو په مقابلی کی دجګړی دسختولو لپاره ٤۰ عرادی محاربوی نوی ټانکونه ورکړل شوی دی .

# ارتش مستقل جمهوریت یوکراین

کیف ، ۸ جدی :

*جمهوری جدیدا به ازادی رسیده یوکراین تلاش دارد بخاطر تحکیم سرحدات خویش ارتش مستقلی راترتیب دهد .*

*قرار اطلاع رادیو بی ، بی ، سی از مرکز این جمهوری قوماندان گارد ملی یوکراین گفته است که ارتش یوکراین سالیمت کشور خود را حفظ خواهند کرد وملت یوکراین هیچ کسی رااجازه نخواهد داد تا در امور داخلی ایشان مداخله کند .*

*ازجانب دیگر گفته شده گرچه ارتش مذکور فعلا بااسلحه خفیفه مسلح است ولی پیامی واضحی دران برای جمهوریت های دیگر نهفته است وان اینکه موقف یوکراین دراجلاس روسای جمهوری اتحادیه کشورهای کامینولیت چی خواهد بود ؟*

*قرار است این کنفرانس درچند روز اینده درمرکز جمهری روسیه ابی دایر گردد .*

*رئیس جمهور اوکراین قبلاً کفته بود که تحفظ همه سرحدات بشمول سرحد با پولیند راارتش سرحدی یوکراین بعهده خواهد داشت وارتش متحد کامینولیت تنها از اسلحه اتومی دریوکراین حفاظت خواهد کرد ، درمورد سرحدات هیچ گونه اختیاری نخواهد داشت.*

# دمسکو دمعاهدی راتلونکی شکمنه ده

پیښور ، البنیان آژانس :

دموثقو ذرایعو دروټ له مخی ویل کیږی چی په مسکو کی تیره میاشت دمجاهدینو او روسی واکمنو تر منځ دخبرو اترو په پای کی چی کومه اعلامیه خپره شوی وه ، دهغی راتلونکی شکمنه ده ځکه بوریس یلتسین دامریکا تر فشار لاندی راغلی اودخپلو وعدو څخه منحرف ښکاری .

رپوټ وایی دغه ډول شکمنی وضعی دمجاهدینو هغه ډلی چی مسکو ته په تلونکی هیات کی شریکی وی له پریشانی سره مخامخ کړی دی .

رپوټ زیاتوی دنوموړی هیات مشراستاد ربانی هم دروسی واکدارانو سره روسیه غندلی اواخطار یی ورکړی چی که روسان په خپل عهد وفا ونکړی نو دکابل رژیم پر ضد به په جګړه کی پراختیا راشی خبری منابع زیاتوی چی ځینی افغانان پدی خوش فهمی مبتلاوو چی دروسیی نوی مشران به دافغانستان دمسلی په اړه نرم زړه ولری خو دایی هیره کړی ده چی یلتسین دامریکا پلوی یهودی دی .

په همدی ډول دروتسکوی څخه دنیکو ارانو هیله درلودل غلطی ده ځکه دهغه خپل لاسونه دافغانانو په وینو سره دی .

دهیت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۲۳)
یونیورستي تاون پیښور
تیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»